دَ تور اوربل
تورو کمڅو نه خبري

عبدالله جان مغموم
تمغهٔ امتیاز

۷ اگست ۲۰۰۰

7 اگست 2000

دَ مغموم دَ یو خط په جواب کښې

++++++++++++++++++++++++++++++

اشنا ستمه شاعري مې ستا وېښکي کوې نهٔ کهٔ
زما په تهول له شاعري کښې تا فرحت او نهٔ موند
ما په قدم قدم په ځان پورې خندلي ځو دي
ما ته احساس دے چې ماځوک هم خندولي نهٔ دي
تهٔ په خپله هم مغموم وے اداکار چې هم وې
تا خپل دردونه پټول شو ما پټ نهٔ کړے شو
ما ته احساس دے تا د ننه ځان ژړلے هم شو
دا دې کمال وُو چې په شونډو به دې تل خندا وه
زهٔ چې ځهٔ اومه هغه ومه اداکار نهٔ ومه
زهٔ اعتراف کوم چې تهٔ دَ وخت یو لوئے فنکار وې
تا دَ رومان په رېښمي پردو کښې ځان نغښتے شو
تا خپل غمونه په خپل زړهٔ کښې ځوندي کړي چې وُو
ما په مودو دَ نظریو په شاځویونه لیدلے
وخت او حالاتو نظریو داسې ذرې ذرې کړم
دَ زړهٔ چپې وړاندې په مخه کړې ستا کار چې ګران وُ
په زړهٔ پرهر وې ځو تا خلقو کښې خندا وېشله
ما ته احساس دے زما کار هم څهٔ آسان نهٔ ؤنهٔ وُ
زهٔ درنه ورستو شوم چې وخت په وخت غبار مې ایستو

ما خپل غمونه کهٔ هرڅو دَ فن نقاب کښې پټ کړهٔ
تهٔ چې فنکار وې سمه ستې مې دَ فن روح ته کوز شوې

قمر راهي مردان ۱۹ ر اګست ۲۰۰۰ء

دَ
توراوربل
توروکمشوخبري

عبدالله جان مغموم
تمغهٔ امتیاز

گرانی صلاح الدین ترشه ی

میشم ویرانه ی کوم

24.1.2008

تمهيد

دَ تور اوربل تورو کمڅو خبرې
څومره خوږې دي دَ تېرو خبرې

دَ نيمې شپې په خاموشۍ کښې کُلې
نغمې نغمې شي دَ بنګړو خبرې

ترون

دَ هغو نیمګړو نیمه خواوُ ارمانونو

په نوم چې وخت بې وخته زمایه زړهٔ

کښې لګه دَ یو طوفان راپورته شویدی

او بیا په خپله قلار شوی دی

مغموم

فهرست

پېغله		
	ایاز داؤدزے	۱۱
دَ رومانې شاعر (دَ لوپښتو خبرې)	صابر شاه صابرؔ	۲۲
دَ تور اوربل تور وکښتو خبرې	عبدالله جان مغمومؔ	۳۰
لویه خدایه لویه خدایه		۳۷
ورپسې زلمو ځوانې خاورې ایرې کړې		۳۹
بس یو پو ستې غوندې خندا اوکړه ته		۴۰
داسې په ما باندې وختونه راغلل		۴۱
اول په زړهٔ سره صلاح کوُمه		۴۲
نشې نشې سوده نشې دې منم		۴۳
بیا مې ارادې جوړې نن ځوانې شوې		۴۴
تکې تورې شپې کړې تا		۴۵
شپه دَ انتظار په شوګیرو تېروم		۴۶
ته چې زلفې راخورې کړې تورې شپې شي		۴۷
وېم چې ستا دنیا هم او سوزوم ایره کړم		۴۸
چې ستا زلفې ولونه اونړې کمځې شي		۴۹
ګلان ټول ازغي شول		۵۰

ستا د زلفو سلسلې دي ۵۱
بې واره توېدلې بې اختياره څڅېدلې ۵۲
تنهايي مې دي مذکرې او غمونه راسره دي ۵۳
پرهرونه جوړوي زړه کښې زخمونه جوړوي ۵۴
ستا د مُسکا ستا د خندا نه قربان ۵۵
کله کله راته اوګوري مُسکی شي ۵۷
د زړه تسکين په مېخانو کښې نه وُ ۵۹
کله کله مې دا زړه داسې خفه شي ۶۰
مست شم د پازېبو د شرنګا سره ۶۲
چې ستا خندا زما ژړا اونه شوه ۶۳
په څوله کښې اه په زړه زخمونه لرم ۶۴
راغلې ورځې شپې د پرېشانۍ زما ۶۵
ستا د وصال په رنګينو کښې اوسم ۶۶
دا د زلفو سلسلې چې راخورې شي ۶۷
مينې دي اسانې راته ګرانې کړې ۶۸
رقيب چې ماله نن پېغور راکوي ۶۹
شمعه بلېږي د دنيا ديپاره ۷۰
اوښکه څوند دي نوي ژوند دي دي اوبو کښې ۷۱
نغمې نغمې دي د بلې خيرې ۷۲
راغے ماښام ډېر د غمونو سره ۷۳
تورې تيارې راته فنا ښکارې ۷۴
خدايه ترڅو به نو ژړېږمه زه ۷۵
کله د ژړېږي څه مُسکی څوند دي ۷۶
د شپې اوښکې مې ځلېږي په کتو کښې ۷۷
راشي راته اوګوري مُسکی نه شي ۷۹
بيا دې يادونو سلسلې جوړې کړې ۸۰
نور دې اے ژوندونه په سجدو نه تېروم ۸۲
بېلتانه کښې څه دا هسې چل په ما شي ۸۳
نن په فضا کښې رنګينۍ ښکارې ۸۵
راځئ ستورو چې اوده شو شپه پخه شوه ۸۶
چاته شراب چاته کاسې ښکارېدې ۸۷
چرته چې زلزل غوندې پېدا شي حوصله کښې ۸۸
هر طرف ته ګورم مايوسۍ دي او غمونه دي ۹۰
ما په زېر زېر ورته کتلے نه شو ۹۱
خدايه يو څو ورځې ژوندون دې راکړو ۹۳
مکوه ساقي نن راته نامه کوه ۹۵
دا څو څه غم نه دے چې تېرې کړمه ۹۶
څه ژړا شي څه سلګۍ شي ۹۷
راغله غمونه جوړې نور راغله ۹۹
هغې و ښېل تهمت په ما پورې شو ۱۰۰
ځکه مې دېرې پرېشانۍ شي کنه ۱۰۱
ځکه زمانه نن ژړا هېره شوه ۱۰۲

اول ژړا وي بیا سلګۍ شي کنه	۱۰۳
کۀ هرڅو دې غم د حد نه په وتېر شي	۱۰۴
ستا د اوربل د اپرېشانۍ مزه که	۱۰۵
په محفل کښې بلېدې ته	۱۰۶
د زړۀ تسکین په منځانو کښې لټوم	۱۰۸
دُنیا دَ اُمیدونو مې څۀ ورانه ګوندې ښکاري	۱۱۰
ښۀ دې انکار د اقرارونو څخه	۱۱۱
د نېکۍ بدۍ حساب شي په عقبیٰ کښې	۱۱۲
دا څو غلط دي چې خند لے نۀ شم	۱۱۴
څۀ له زما د مرګ سوالونه کوې	۱۱۵
څۀ په ژړا څۀ په زارو تېره شوه	۱۱۶
په ښائسته مخ د شین خالۍ مې قسم	۱۱۷
د زړۀ د غم دا نه تپوس مۀ کوئ	۱۱۸
څوک ورته سور څوک ورته شین وائي	۱۱۹
شپې د بېلتانۀ دومره اوږدې دي راځه	۱۲۰
ارمانونه چې مې خاورې شي ایرې شي	۱۲۱
سپوږمۍ سره خبرې	۱۲۲
لږ څو مې پرېږده غمه	۱۲۴
تعبیر	۱۲۶
وادۀ	۱۲۷
ډمه	۱۲۹
د ختیځو زمکې ته خطاب	۱۳۱

پېغله

د پېغلتوب کور دې ودان اوسي تل
چې چې د پېغلونه نغمې جوړې کړي

د مغموم په شاعرۍ د پېغلې او پېغلتوب خیال داسې ونغښتې دے چې د هغۀ هر شعر هره مصرعه او هر غزل په ځانله یوه ښکلې نازولې پېغله ښکاري۔ په پېغلې چې د پېغلتوب چپه راشي نو پېغله بیا پېغله پاتې نۀ شي بلکې یوه مسته شان نغمه شي۔ هم دغه د حُسن او موسیقۍ امتزاج چې مغموم ئې د پېغلې په وجود کښې بیاموي۔ د هغۀ غزل ته ئې بې سیاله ښکلا او عمومي مقبولیت بخښلے دے) څو پېغله د زمانو راسې د مشرق په شاعرۍ کښې د معشوقې محبوبا۔ دلبر۔ دلربا نګار او داسې په نورو نامو او علامتونو یاده شوې ده۔ د هغې نازونه اداګانې زده دي۔ د زړونو لوټل او د مینانو وژل ئې کار دے۔ بې وفائي او وعده خلافي ئې خاص شعار دي۔ دغه پېغلې په هره زمانه او هر دور کښې د ځېل پېغلتوب او ښکلا نوبتونه غږولي دي۔ څو سره د دې ټولو خصوصیاتو پېغله د شاعر په نظر کښې هم هغه پېغله ده

لکه چې یو عام انسان ځواني په مخه اخستې ښځې ته په کاسیرو نظرونو ګوري - د ښځې د وصال تمنا د مینې دنیا کې مینې آخري منزل، او د انساني ژوند د ارتقاء معراج ګڼلې شي - د ښځې نه فطري اقتضاء هم دغه کېدې شوه - څو تن زماني دومره ښې عیث روږدو - انسان د فطرت نه دومره لرې لاړو - مشیني دور مصنو دومره عام کړو چې د فطرت ښه انسان د فطرت په غېږ کښې آرام کولو د پاره د تخیل د بلندونه هم تېرشو او دا وهامو په خرو کښې د فطري اقتضاګانو په لټون پسې ورک شو - دغه وجه ده چې د نن د زلمي شاعر قوت واهمه یوه ښځه، ښځه نه بلکه یوه نغمه تصور کوي او د نغمې نه چې د روحاني تسکین سرچشمه ده، د جنسي تسکین موهومه اقتضاء کوي او وائي چې ~

د ښځلتوب کوردې ودان اوسې تل ~
چې ئې د ښځلو نه نغمې جوړې کړې

نه پوهېږم چې د نفسیاتو صباني ماهران به د نننی دور تجزیه او دغه تجزیې په رڼا کښې د مغموم د دې الهامي شعر تشریح په څه ډول کوي - خو زه په دې نتیجه رسېدلې یم چې د مغموم شاعري هم لکه د مشرق ښتونې شاعري ده او هر ښتونې فن هم د شاعر او فنکار د ژوند د ښتونې آئینه ده) مغموم د ماشوم والي راسې د رسم ورواج په سنګینو قلاګانو او د اخلاقیاتو او عقائدو په فولادي پنجره کښې داسې بند پاتې شوې دې چې هغه د ښځلتوب د حرارت نه هډو خبر نه شو.

هغه ښځه د لرې نه لیدلې ده، د دومره لرې نه چې د هغه په خیال د انساني هوسونو رسائي ورته هډو امکان نه لري - هم دغه وجه ده چې مغموم ښځه یوه مجسمه ښکلا، یوه مسته نغمه ګڼي چې تل تر تله د هر قید و بند نه په امان پاتې شوېده - د دې سره سره د ښځې د موندلو او خپلولو فطري اقتضاء هم د هغه په تحت الشعور کښې داسې په غزوونو ده چې څه وینې نو ښځه ورته ښکاري - د هغه په وژدان د ښځلتوب خیال داسې سور دی چې د هغه هر فنکارانه تخلیق هم د ښځې د خیال نه زېږېدلی او ځکه د هغه غزل د ښځو سره خبرې نه بلکه د ښځې د ښکلا، د هغې د مستې ځوانۍ او د هغې د نغمه ځېن وجود د رنګو او پراخو عکسونو مجموعه (البم) معلومېږي -

د مغموم د غزلونو ښځه چې هغه ئې اکثر "ګلې" په نامه مخاطب کوي یو مخصوص شخصیت نه ښي کېږي - دا د ښکلا د هغه د لوړ تصور مجسمه ده چې هر صوفي هر عالم هر فنکار او هر د حُسن او ښایست توب طلبګاري لټون کړې دی - په رنګ رنګ او ډول ډول نومونو ئې یاده کړې ده - او دغه "لټون" او دغه "یاد" په رنګ رنګ نظریې قسما قسم فلسفې او ښې سیاله فنکارانه شاهکارونه په هر دور په هره زمانه په هر ملک او هر قوم کښې زېږېدلي دي - د ښکلا دغه لوړ تصور د بنیادمو ایکې یو مرکزي خیال پاتې شوې دی - او هم دغه یو "مرکزي خیال" د بنی آدمو د "وجداني وحدت" ژوندې دلیل دی فرق صرف دومره

دے چې نورو "شائیسته پسند و" د غه نېکلا د انساني ژوند نه لرې د فکري تخلیقاتو یا د اوهامي او الهامي وارداتو په پېکرونو کښې لټوله او مغموم ئې هم د دې دُنیا په پېغلو کښې لټوي۔ د هغه د زړهٔ مراد د غه د نوې زمانې پېغلو پټ کړے دے هم د هغوئ نه ئې غواړي او لټوي ئې خو په د غه پېغلو کښې هغه پېغله کومه یوه ده چې د مغموم د ښکلا د تصور مجسمه ثابته شي۔ هم دا په پېغلو کښې د پېغلتوب لټون چې نهٔ ئې مومي۔ هم دا پېغلې، پېغلې نه بلکې نغمې گڼلے کېږي د مغموم د ژوند او شاعرۍ هغه خصوصیات دي چې څرته د "شائیست پسندۍ" او حقیقت پسندۍ رنگین رُفقونه یو ځائے کېږي۔ سره د دې ټولو خبرو ر مغموم چې څهٔ وائي نو په شعوري طور ئې وائي۔ هغه مجذوب شاعر نهٔ دے۔ څهٔ چې وائي لیکي نو ور باندې پوهېږي۔ د بېدارۍ په عالم کښې فنکارانه تخلیق کوي۔ هغه په خپلو نفسیاتي کشالو هم آگاه دے۔ خپلې نظریاتي لانجې هم پېژني او د خپل فن د قدرونو نه هم آگاه دے۔

دا څهٔ چې د هغه په خپلو الفاظو کښې د هغهٔ د شاعرۍ او ژوند په حقله د خپلو دعوو او نظریو ثبوت او لټوؤ۔ مغموم د شعر د لیکلو په وخت څهٔ کیفیت محسوسوي؟ وائي چې "زهٔ هغه وخت شعر لیکم چې څهٔ وخت شعر ما په لیکلو مجبوره کړي۔ او هر کله چې داسې حالت راشي نو بیا د خپل اشنا په تصور کښې داسې غرق شم چې د دنیا و ما فیها نه بې خبره یم۔ په هغه وخت

زهٔ دا محسوسوم چې زما ښلې زما په وړاندې ولاړه ده او زهٔ ګڼیایم د هغې سره خبرې کوم۔ او څهٔ وخت چې د لیکلو نه او زګار شم نو په هغه وخت داسې تسکین محسوسوم لکه چې ما یو ډېر لوئے کار کړے وي او ددې نه پس لیکلي شعرونه بیا بیا لولم او دا بیا بیا لوستل زما زړهٔ ته هر یو وار یو نوے تسکین ورکوي"

راځئ چې دا او گورو چې د مغموم د غه اشنا څوک دے چې د شعر د لیکلو په وخت د هغې په تصور کښې د دنیا او ما فیها نه ناخبره وي۔ او هغه ښلې څوک ده چې د شعر د لیکلو په وخت ورته مخکښې ولاړه وي مغموم وائي چې زما په زړهٔ کښې یو داسې درد دے چې ددې درد د پېدا کوونکې نه زهٔ نهٔ یم خبر۔ زهٔ نهٔ یم پوهے چې زهٔ په چا مئین یم۔ زهٔ نهٔ یم پوهے چې هغه څوک ده چې د چا یاد زما احساسات او زما زړهٔ هر وخت ناقراره ساتي۔ زما د خیال مرکز "د پېغله" زما په زړهٔ کښې شته۔ زما په دماغ کښې شته خو په سترګو مې لا نهٔ ده لیدلې، ولې بیا هم د هغې تصور او د هغې یاد ما په ویلو مجبوره وي۔ ما ته د لیکلو بلنه دا کوي۔

د مغموم د خپلو وېناګانو نه هم دا معلومېږي چې د هغهٔ د شاعرۍ "زړهٔ پېغله" هم هغه د چا زلمي شاعر "د خیال د ښلې" چې هغه ئې حُسنِ کُل کښې یو عکس دے۔ خو فرق صرف هم دومره دے چې د خیال ښلې د خیالونو نه هم په بره او سېږي او شاعر ته په طنزیه لهجه کښې وائي چې

شاعره ما ته به ته ځان دارسي
زهٔ د عنقا په اشیانو کښې اوسم

خو د مغموم "پېغله" هم د مغموم خواږه شاپېغلو کښې اوسي او لټون ئې هم په دغه خواږه شاپېغلو کښې کوي۔ او د مونږ او قوي اُمید ئې لوي ځکه خو وائي

خوب خندا به په مغموم باندې حرام کړي
یوه پېغله به پیدا شي چینکو کښې

عبدالله جان مغموم د پېښور ښار نه څلور میله قطب ته په یو وړوکي کلي کښې چې دارمنګي نومېږي او د خیلو په تپه کښې د ورسک روډ د پاسه پروت دے په یوې درنه او معززه کورنۍ کښې پیدا شوے دے۔ نن صبا یې څهٔ کم و زیات ۳۷ کاله عمر وي۔ زهٔ مغموم د ماشوم والي راسې پېژنم۔ دَ هغهٔ سره د وړوکوالي نه زما د زړهٔ تړون دومره زیات دے چې د هغه هره کمزوري ما ته یو لوئے صفت ښکاري۔ دغه وجه ده چې ما کله هم د مغموم په شاعرۍ د څهٔ لیکلو دپاره قلم را خستے دے نو هغه منع کړے یم چې ته زما د شاعرۍ په حقله دیو غیر جانبدار نقاد کردار نهٔ شې ادا کولې خو زهٔ ورته وېم چې مغموم زهٔ لا نقاد کله وم۔ زهٔ خو په فن مئین یم او چرته چې فنکارانه خوبۍ وینم نو سندرې ئې وایم دلته زهٔ د هغه اشنایانو نه هم معافي غواړم څوک چې د خپل لوئے علم په رڼا کښې د مغموم په فن کښې څهٔ کمزورۍ ویني۔

نو وئیل مې داچې کهٔ دَ مغموم صیب دَ وړوکوالي ماحول هرڅو شاعرانه نهٔ وُ۔ او چاچې د هغهٔ کلے لیدلے وي د هغهٔ د کورنۍ د سختو مذهبي پابندونه آګاه وي نو هغوئ به زما دې خبرې سره اتفاق اوکړي چې د مغموم د ماشوم والي په ماحول کښې هډو د شاعرۍ ګنجائش نهٔ وُ خو سره ددې هم د مغموم طبیعت د هلکوالۍ نه شاعرانه وُ او اکثر به مو خبرې هم په شعر شاعرۍ کولې خو په کال ۱۹۶۴ کښې چې د هغهٔ څهٔ لوبې او غزلې مې واورېدې نو د هغې ورځې نه مو د خیال او فکر ملګرتیا هم پیدا شوه هغه ورځ ده او نن ورځ ده چې مغموم زما زړهٔ ته دومره راجوخت دے چې زهٔ ئې د خپل ځان نه بېل شخصیت نهٔ شم محسوسولے۔ اوس چې هم دَ هغه په حقله څهٔ لیکم نو لکه چې دَ ځان ستائینه کوم۔ ځان خلق د هرچا نه ښهٔ پېژني او زهٔ مغموم دَ هرچا نه ښهٔ پېژنم۔

زهٔ چې مغموم باندې څهٔ لیکم یا دَ هغهٔ کلام لولم نو د هغهٔ خنده رویه څهره راته وړاندې ولاړه وي کهٔ هرڅو ئې هېروم هېرېږي مې نه۔ او چې ئې نهٔ شم هېرولے نو دَ هغهٔ متعلق غیر جانبداره رائې هم نهٔ شم څرګندولے مغموم زما اشنا دے۔ اشنا به څوک څنګه هېر کړي۔ مغموم وائي۔

اشنا مې ځان دے زهٔ به ځان هېروم
خدائګو جهان نهٔ دے چې هېر ئې کړمه

دَ مغموم په شاعرۍ کښې د کلي وال ژوند عکس څرګند ښکاري

هغه دخپل ماحول مطالعه ډېره ښه کړې ده او دغه مطالعه په ډېر ښه ډول په خپلو شعرونو کښې څرګنده وي - په کلو کښې د پېغلې دیدار یا څو په کودر کښې یا د کوټې په چت او یا بیا د کلي د کودرو نو د پېغلو نه هم چېت وي نو کله ناکله د دېوال نه هم سر راهسکوي، ځکه څو مغموم خپلې کلي والې پېغلې ته وائي - چه

څه څو یا نه کړه په دېوال اوګوره
ستا د کوټې سره تېرېږ مه زه

وائي چې پېغله د ختو جوړه کړې نو هم ښه وي څو د پېغلتوب سره چې ښائست هم ملګرے شي نو بیا څو هغه د مغموم خبره چې ښائست او پېغلتوب سره یو ځائے شي

هره پېغله یوه مسته شان نغمه شي

دَ پېغلې تصور لکه چې مخکښې اوویلے شول د مغموم په کلام کښې ډېر اوچت دے - هغه د پېغلې نه هډو د جنسي خواهش خیال قدرهم نشي کولے - پېغله بس یو خیال دے، یو تصور دے، یو ښکلے تصور - څو ..... مغموم هم څه ارمان لري - د خپلې خیالي پېغلې په حقله څه هوسونه لري - راشئ اوګورئ څومره ښکلے ارمان او شالي هوس لري - وائي چې چه

ما څو یو ګل د پسرلي کړې ربه
چې بیا د پېغلو په کمڅو کښې اوسم

دَ خیالي پېغلې تصور د مغموم په خیال کښې دومره پوخ شوے

دے چې کله کله دغه پېغله په کلا هم اووېنې نو وائي چې

ستا د پازېب په هر یو شرنګ مې قسم
زه دې نشه کړم په نشو کښې اوسم

دَ پېغلو پېغلتوب دې خدائے هم د پېغلو نصیب کړي - مغموم د پېغلتوب دَ خپلو لوهسه هم نه لري پېغله او پېغلتوب ورته ګل او ګل څانګه ښکاري - ګُل د ګل په څانګه کښې ښه ښکاري - که شوکوې ئې یا بوئیوې ئې نو مړاوے کېږي پېغله لکه د ګل هم د کتو د پاره پېدا ده - او یو معمولي ګل هم د wordswarth غوندې احساسي بنیادمو ته دا رنګ احساسات ورښېي چې د بیان نه ئې عاجزه وي - او شاید چې دغه زور احساسات په بنده څه بېهوشي غوندې راولي او ځکه ئې اظهار نه شي کولے - مغموم د پېغلو په لیدو هم هغه کیفیت محسوسوي کوم به چې wordswarth د ګل په لیدو محسوسولو ځکه څو وائي چې: چه دا پېغلتوب مو خدائے نصیب کړه پېغلو

زه مو نشه کړم په نشو کښې اوسم

یوازې د پېغلو په لیدو مغموم دا کیفیت نه محسوسوي بلکه چې د پېغلو د ښائست خبرې قدرله واورې نو هم ئې فکر یو سې د ځان نه ورک شانې شي نو په داسې موقعه مغموم وائي چه

چې د پېغلو د ښائست ذکر شروع شي
راپېدا شي یو جنون غوندې په ما کښې

مغموم چې په چمن ورګډ شي او د سروو قطارونه ووینې ګمان یې راشي چې ګنې پېغلې ولاړې دي - او چې څه وخت په خود شي او پوه شي چې دا خو پېغلې نه دي بلکې سروې ولاړې دي نو وايي چې د دې سروو د چا پېغلې ښائست او پېغلتوب ته پام شوی وي، نو ځکه خو پېغلې ښکارېږي ؎

ستا ښائست او پېغلتوب ته یې چې پام شي
هره سروه د چمن پېغله جینۍ شي

حقه خو داده چې هم پېغله د مغموم کائنات دی - ځکه خو ورته په پېغله کښې کائنات او په کائنات کښې پېغله ښکاري - وايي.

؎ هر یو وار چې ورته ګورمه حېران شم
کله شمعه کله ګل کله سپوږمۍ شي

(یا) پوه یم چې سپوږمۍ د څه سیالي کوي
میاشته شي نرۍ شي خو ټکۍ نه شي

پېغلو کښې د مغموم د خیال پېغله او سېږې چې ډېرو ورپسې خپلې ځوانۍ خاورې کړې دي، نو ځکه خو وايي -

؎ ورپسې زلمو ځوانۍ خاورې ایرې کړې
خدای دې ګونګ کړه څه له پېغلو ته خبرې کړي

(یا) چې رنګینې ټولې راغونډې شولې
پېغلو ترې ځان له لوپټې جوړې کړې

مغموم سره دا خیالي مجلس به د مغموم په هغه شعر ختم کړو کوم چې دا ثابتوي چې هغه شعر یکې نو شعوري طور

یې هم د پېغلې په تصور یکي. د موجوده زمانې د پېغلو د دوو ګمڅو نه څه ښکلې خیال اخلي وايي چې ؎

؎

چې یې ستا په تصور کښې ګلې یکم
نو هر شعر د غزل مې دوه ګمڅي شي

(ایاز داوُدزی)

عبدالله جان مغموم

روماني شاعر

دَ لوَ پښتو خبرې

دَ قدرمن عبدالله جان مغموم دَ شعرونو، کالمونو، طنزونو، ډرامو او افسانو په حقله دَ دغه خپلې وېناچېل انداز منفرد قلمکار بد قسمتي ده چې نه هغه هومره ووېلې شو نهٔ څهٔ او لیکلې شو څومره چې زمونږ د ادب په معاصره دوره کښې ددهٔ په نورو همعصرو وېلې شوي دي، باوجود ددې چې دے زمونږ د هغو سړونو په شمېر کښې شمارل کېږي کوم چې د "هفت پهلو" انسان یا شخصیت ټول صفتونه، اړخونه او رنګونه لري -

دَ مغموم صاحب دَ ژوند ګړۍ ګړۍ، لمحه لمحه د دغه "بې ډوکه" "بې سرکاره" "بې دلباره" ژبې په خدمت او هاند و هڅه کښې تېره شوې ده، هغه دَ خپلې ځوانۍ دَ مستۍ هاغه شپې ورځې چې ځلمي يې په نورو نورو تماشو کښې تېروي دهٔ په پښتو لوستلو لیکلو کښې تېرې کړې ده - مغموم خپل ټول صلاحیتونه ټول وختونه دَ پښتو له سره ځار کړي دي هغه دَ ژوند ټولې منډې ټول زیارونه دَ پښتو له پاره کړي دي - هو بې صلې، بې طمعې، بې لالچه هغهٔ دا هر څهٔ دَ یو څو دنیاوي غرضونو، مقصدونو حاصلولو له پاره نهٔ دي کړي -

په پښتو ادب کښې په موجوده وخت کښې دَ مغموم صیب نوم په مشرانو لیکوالو کښې راځي - دوه کم اتیا کاله عمر يې دے - دَ شپېتو کالو راسې شاعري کوي - څو دَ دې نه زیات دَ موصوف دَ بې غمۍ او ناراستۍ څهٔ مثال کېدے شي چې دا دے په دې شپېتهٔ کاله کښې ایله اوس خپل دَ شاعرۍ دوه مېنے کتاب (دَ توره اوربل تورو کمڅو خبرې) چاپ کوي - او دا هم زهٔ په دې خبره ویاړم چې کهٔ زما زور ورسي نهٔ وے نو دا کاغذونه به د لوګو او وینو خوراک شوي وو څو دېر پس غېږه به يې نهٔ وه لیدلي - لے

دَ عبدالله جان مغموم دَ شاعرۍ څخه موږ مجموعي رایې دا ورکو شو چې نهٔ دهٔ دَ چا په رنګ شاعري کړې ده او نهٔ ددهٔ په شان شاعري ددهٔ نه پس بل کوم شاعر وکړه مطلب دا دے چې مغموم صاحب یو "صاحب اسلوب شاعر" دے، څو پکار څو دا ده چې ددهٔ نه پس ددهٔ اسلوب لکه زمونږ دَ شلمې صدۍ دَ څنو نورو لویو او "با اسلوبه" شاعرانو (چې حمزه، اجمل او قلندر په کښې په سر کښې راځي) نوي نسل خپل کړي دي ولې یو څو دهغهٔ دَ شعرو ادب دَ محفلونو نه لرې پاتې کېدل او بل د خپلې شاعرۍ په تشهیر نهٔ کولو هغه دَ دغه اعزاز نه محرومه پاتې کړي دي نو کهٔ د بنهٔ غورو فکر نه پس دا رایې ورکړم هیڅوک به مې پرې ګرم نهٔ کړي چې کومه شوخي، سادګي، بې باکي او رنګیني دَ مغموم صاحب په شاعرۍ کښې پیدا او موندلے شي، دغه صفت ددهٔ دَ عمر دَ بل هیڅ کوم شاعر په شاعرۍ کښې نشته زما ددې خبرې نه دې ګوره هرګز دا مطلب څوک نهٔ اخلي چې ګني عبدالله جان مغموم تر ټولو لوے، پیوهٔ او زوراور شاعر دے - شلمې صدۍ دَ پښتو دَ شاعرۍ په بڼ کښې

داسې داسې ګلونه څوکولي دي چې په وږمو يې تمامه پښتونخوا معطره ده چې شملې يې هسکې تا تر سره سيالي کوي ـ زما اصل غرض دا دے چې کوم فطري روحاني خوږه او ساده والے زمونږ د دې شاعر په شاعرۍ کښې پراته دي هغه د نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې ډېر کم دي ـ

د معصوم صاحب "ګله" يا "پېغله" د هغهٔ په زړهٔ ذهن او وجود په رګ رګ کښې مېشته ده خو دا څومره عجيبه خبره ده چې هم دغه پېغله معصوم صاحب په مخامخ ستر ګو ليدلې هم نهٔ ده او د دې لوئے سوب دا دهٔ د ماحول هغه رواجي او روايتي قلعه ګانې دي کومې چې د معصوم صاحب نه ګېر چاپېره د معصوم صاحب د فکر نهٔ هم هسکې ولاړې دي ـ هغه وخت چې د معصوم صاحب د شعر شېرينو يا پېغله ښهٔ مسته وه څنګه خلقو په دهٔ د ګمراه شاعر لېبلونه او الزامونه ونګول ـ وي به يې چې د زلفو، ستر ګو شونډو او رخسارونو ذکر په ډېرو شليدلو ټکو کښې کوي ـ خو دا هوښيار شهسوار بيا هم د خپل مرام او مقام نه وانهٔ ړولے شو ـ دهٔ به وې زهٔ د قدرت د فن ستائينه کوم، خلق کهٔ د انسان په لاس د جوړ شوي صنم مدحه کړي کوي زهٔ دې د دومره لوئے ذات له خوا د جوړ شوي شهکار تعريف او توصيف ولې او نهٔ کړم ـ د چا سندرې چې ټول کائنات وائي ـ د چا مدحه کړي چې ټول قدرت کوي ـ ښهٔ شاعري هغه ده کومه چې د هر دور هرې زمانې له پاره وي کومه چې هر وخت هر حالت کښې په زړګو ښهٔ او پېخې ښکي او معصوم صاحب په دې حقله خوش قسمته دے چې هغه کومه شاعري کوي هغه د يو

محدود دائرې يا ليبل پابنده او منت باره نهٔ ده، هغه پاتې کېدونکې شاعري ده د هغې نه اوس هم او راتلونکيو وختونو کښې به هم خلق خوند او اثر اخلي ـ د معصوم صيب شاعري د انسان او انسانيت، د محبت او صداقت په دائمي او آفاقي قدرونو بنا ده ـ د معصوم صاحب د شاعرۍ بنيادونه ډېر مضبوط دي ـ هغه د انسان د ښائست سندرې وئيلي دي د ګلاب ګلاب څهرو، غندل غندل څوانو، سندرې يې وئيلي دي هغه د مينې محبت سندرې وئيلي دي ـ او مينه به خلق په هر دور کښې کوي، د مينې مزے دومره ګڼه نهٔ وي چې د نرې سيلۍ د يو بې چپې سره ترې ترې شي چې کني مينه ن خلق پېژني، صبا به يې نهٔ پېژني د دنيا بازار ولاړ د محبت په رده دې د دې بازار رنګ ونور هل چل او د ژوند هاندوهڅې په خپل ځائے خو د دغه ردې اهميت حېثيت او افاديت نه هم انکار نهٔ شي کېدے ـ

معصوم صاحب داسې د زلفو انګو او شونډو صفتونه هم نهٔ دي کړي لکه چې دا بعضې بعضې شاعران يې کوي ـ د هغهٔ سل په سل فيصده شعرونه د عشق د کړ کړي نه تاو دي د هغهٔ انداز چې کوم دے په پښتونخوا کښې دا انداز خدائے پاک صرف د دې شاعرانو ته په نصيب کړي دي او دغه دي يوسف اورکزي، سيف الرحمن سليم او اکرام الله ګران ـ

د توره او ربل تورو ګمڅو خبرې
څومره خوږې دي د تېرو خبرې
د نيمې شپې په خاموشۍ کښې ګلې
نغمې نغمې شي د بنګړو خبرې

معصوم صاحب چې هر څهٔ هم ليکلي او وئيلي دي نو د پوهې او شعور

سره یې په ډېر اروسترګو وټیلي دي هغه مدهوش او مجذوب شاعر نه دے، هغه هاغه څه لیکي په څه چې خلق پوهېږي څه چې خلق او خصوصاً نوي نسل خوښوي. د مغموم صاحب ټول ژوند د مینې نه عبارت دے. د هغه نظریه مینه ده. د هغه مذهب محبت دے. د هغه کلے ټول جهان دے. د هغه کور د تصوراتو او دودې د پولو نو د قید و بند نه مبرا دے. زه دا خبره په دعوې سره کوم چې که د عبدالله جان مغموم د شعرونو کتاب د هر قوم په ژبه ترجمه شو هغوی به دا شعرونه په دومره شوق او ذوق لولي لکه چې هغوی د خپل ماحول د کوم مست روماني شاعر کلام لولي هغوی ته به دا کلام پردے پردے نه ښکاري.

مغموم صاحب مینه خوروي د مینې و پښکر دے، د مینې شاعر دے، مینه د هغه ژوند دے، بې مینې ژوند هغوي په ژوند نه بولي. هغه انسان سره مینه کوي انسانیت سره مینه کوي، د خدائے د مخلوق او ښکلو سره مینه کوي په ځوانۍ کښې یې هم ښکلي خوښېده او اوس هم د هاغه سوچ په دېوال ولاړ دے هم هاغه تپه یې په خوله ده، هغه سخت نظریاتي سړے دے داسې نظریاتي نه چې لکه د ډېر کار مرکزونو پسې ګرځي داسې نظریاتي چې د دائرو او مرکزونو روحونه او نظرونه پسې اړوي ځنې نقطه چین به د مغموم صاحب دغه خود خواهي او په یو ځائے یو فکر اودرېدنې ته "ګمراهي" وائي خو زه هم دغه احساس د مغموم صاحب تر ټولو لوئے برے ګڼم.

هر یو وار چې ورته ګورمه حیران شم
کله شمع کله ګل کله سپوږمۍ شي

چې ته نه یې نو خاموشه خاموشي وي
خو چې راشې نو محفل کښې رنګیني شي
چې خبره د مطلب مخې له راشي
نو نادانه شي ماشومه شي ککه شي

د عبدالله جان مغموم شاعري د درنو بې توپي لفظونو او اوږدو اوږدو بې مفهومه، بې معنې خبرو او د فلسفې د ګنجلکه شوو جنجالونو نه آزاده ده، ډېره ساده، ډېره اسانه، زړه ته کوزېدونکې زړه ښه کوونکې شاعري ده، اولسي شاعري ورته هم نه شو ویلې ځکه چې اولسي شاعري هم د یو سوچ د لاندې کېږي د هغې هم یوه خپله مخه وي، فني هنري اړخ ته پکښې ډېر کم خیال ساتلے شي. ټول زور په کښې په مقصد راوړلے شي او مغموم صاحب خو داسې شاعر دے چې د معنې او مقصد سره یې د فن نو ځونه هم کافي قوي دي. د هر شعر د ټکي ټکي نه یې سادګي، نغمګي او رنګونه څڅېږي. هغه په زور شاعري نه کوي او نه یې د زور شاعري خوښېږي. د محسوساتو او احساساتو زیات قائل دے. او زه دا خبره په دې دعوې کوم چې که هغه په یو وخت کښې ډېر کمزورے شعر هم اووائي. زه ورته وېم چې په دې یو نظر بیا هم واچوي هغه خپله مخصوصه خندا (وکړي او د مرچکي خندا هم منلے شوې ده) وائي "پرېږده صابرشاه څه چې راغلي دي هغه راغلي دي اوس به په کښې څه هنري منافقت کوو، ما چرې هم خپل خیالات زخمي کړي نه دي د فطرت په قانون کښې چې ډېرې ګوتې وهي ډېرې کړمې به ورته راولاړېږي" او د

هغهٔ هم دغه عادت او سوچ د هغهٔ شل فیصده شاعرۍ د فن د تلې نه غورزولې ده که څرې مغموم صاحب د یو "شیفتې"، په ځائے په بیلو بیلو وختونو کښې شعرونه لیکلي بیا بیا ئې کتلي بدې لږې کوټې ئې پکښې وهلې نو بیا خو به دا خبره هډو مبالغه نهٔ وه چې د هغهٔ د شعر سیال به د پښتو د جدیدو شاعرانو په سیل کښې هډو په نظر نهٔ راتلو خو د بد قسمتۍ نه څهٔ د هغه اصولو او څهٔ ناراضۍ او ناروزګارۍ هغه د دغه "[illegible]" نه بې برخې کړې دے!

د عبد الله جان مغموم په ټوله شاعرۍ او ذهن څلور ټکي قابض دي دغه څلور ټکي د موصوف د شاعرۍ سمبولونه دي - هغه چې خبره تاؤ کړي راتاؤ کړي په "لوپټو"، پېغلو، لالو او ګلو" باندې اودروي، او هم دغو څلورو ټکو د هغه د شاعرۍ خوند مزه او رنګیني سېوا کړې ده!

خصوصاً د لوپټې له پاره خو هغه دومره نوي نوي خیالونه راوړي دي چې قاري په دې مجبوره شي چې که په ژوند کښې څهٔ دي هغه ټول هم د لوپټې د سورې لاندې پټ دي، لوپټه د حیا او پښتو رومبۍ نخښه ده مغموم صاحب د ټول سرو له پاره لوپټه لازمي ګڼي زهٔ دلته د "موتي له خوارهٔ" د هغهٔ هغه شعرونه څېلو لوستونکیو ته په وړاندې ږدم کوم چې مغموم صاحب د لوپټې د عظمت، حیثیت، ښائست او مقام او احترام په حقله وئیلي دي -

ستا د سرو شونډو اثر دے او د شنې لوپټې عکس دے
چې لمبه د تنکۍ شمعې کله شنه شي کله سره شي

تصور د لوپټې چې راله راشي　　د شفق رنګینۍ لاړې شي پناه شي

چې رنګینۍ ټولې راغونډې شولې
پېغلو ترې ځان له لوپټې جوړې کړې
لوپټو باندې چې پېغلو سپین پړونې راپه سرکړهٔ
د زلمو ټېرهٔ نظر جوړ لوپټو کښې څوکه کېږي

بهرحال خبرې به په لنډو کوؤ چې د مغموم د شاعرۍ زمکه ډېره متینه او نموره وره ده - دا زمکه په یو نظر نه شي کچ کېدے - زهٔ دا اعتراف کوم چې د مغموم صاحب د مکمل جاج له پاره څومره څېړنه او پلټنه پکار وه ما او نهٔ کړے شوه - ما په دې لنډ تنګ وخت کښې هم دومره کولے شو چې د هغهٔ د شعر د "پېغلې"، د مخ نه "لوپټه" نیم کښېوکړم د نور خط و خال جائزه ئې تاسو واخلئ چې د رومان دې شهزاده دغه ناوې څومره شکر پاره، څومره حسن وره ده!

سید صابر شاه صابر
غریب آباد تهکال

دَ تور او رَبل تورو کمشو خبرې

(زما هغه شاعري چې ما نهٔ چاپ کوله)

خدائے شته کهٔ در ته دروغ وېم چې ما دا خپله شاعري نهٔ چاپ کوله - هډو دَ چاپ کولو اراده مې نهٔ وه - ځکه چې دا زما دَ ځوانۍ شاعري ده، دا هغه شاعري ده چې دَ ځوانانو خوښه وه او دَ بوډاګانو بدې شوه - ځکه خو به زما دَ یوسف خان اورکزي (مرحوم) او دَ سیف الرحمن سلیم خلاف په اخبارونو کښې مضمونونه چاپ کېدل او سرخط به ئې وُو "په ادب کښې ګمراهي" مطلب ئې دا وُو چې اے خلقو خبر شئ یو درې شاعران مېدان ته راوتي دي - د پښتو ادب ئې ګډ کړو - دوئ بې لارې شوي دي - دا بې لارې کسان به لارې ته راوړل غواړي نو د غه پښتنو دانشورانو زهٔ دَ ګمراهانو په فهرست کښې شامل کړے وم - او په زړهٔ کښې ما هم دا منلې وه چې زهٔ په غلطه لار روان یم - په داسې غلطه لار چې راتلونکې نسلونه به تپوس کوي چې "ولې مغموم صيب دې ځوانۍ دربانده داسې سترګې پټې کړې وې چې سره دَ عقل او شعور دې نېغه لار پرېښودلې وه او په کندو کپرو سرشوے وې او دَ پښتو ادب ګمراهۍ ته دې بوږې وهلې وې" نو ما ځهٔ کړے

وے، یو خوا ته دَ مخالفینو سختې سپورې خبرې او دَ ګمراهۍ فتوې وې او بل خوا ته به چې زهٔ په مشاعره کښې اودرېدم او دَ غزل مطلع به مې اووېله چې ....

ع یو نرۍ غونډې مُسکا چې شا په سرو شونډو خوره شي
ټول ماحول سرور سرور شي او فضا یو نغمه شي

نو په هال کښې به یو شور شو هلکانو او زلمو به خپلې ټوپۍ په هوا کښې والوزولې او ماله به ئې دومره شاباسے راکړو چې دَ نقادانو هغه سپورې سختې خبرې به را نه هېرې شوې - دَ ګمراهۍ ټولې فتوې به را نه هېرې شوې او سیالۍ به چې کښېناستم نو یو بل مست غزل به مې اولیکلو یو ه بله جذبات را لړزوونکې مطلع به ذهن ته راغله - یو ځل چې د مردان کالج زلمو ته مې په یوهٔ مشاعره کښې په خپل مخصوص انداز کښې دَ غزل دا مطلع واوروله نو تاسو یقین اوکړئ چې مېزونه درزېدهٔ ټوپۍ لړه کېدې لاسونه پړقېدهٔ او زلمو او زلموټو هال په سر راخستے وُو -

مطلع داسې وه -

ع ورپسې زلمو ځوانۍ خاورې ایرې کړې
خدائے دې کونګ کړه څهٔ له پېغلو ته خبرې کړې

زما شاعري سمې خبرې دي - منافقت په کښې نشته - ساده خبرې او ساده شعرونه دي - داسې شعرونه چې دَ اورېدو

یاد لوستو په وخت اورېدونکي یا لوستونکي په شعر باندې په سوچ کولو نه مجبوره وي بس چې شعر واوري او یا یې ولولي نو رسا زړه او دماغ ته ورسي او هلته ځان له ځائے پیدا کړي - زه تاو راتاو خبره نشم کولے - زه د بهوسو لاندې او بډ نه شم بوتلے زه ګُنجلکه شعرونه نشم لیکلے - زه چې څه محسوسوم - زما چې څه جذبات وي بس هغه د شعرونو په ژبه خلقو ته رسول غواړم - او زما دغه صداقت د پښتو زلمو او ځوانانو خوښ او د شعرانو ناقدانو ناخوښ وو -

یوه ورځ پښتو اکیډیمۍ ته تلے وم - محترم مولانا عبدالقادر مرحوم مې اولیدو نو راته یې اووے چې نه مغموم جانه چرته سمه غونډې شاعري دې نشته چې زه یې د هلکانو جینکو په نصابي کتابونو کښې راولم» .... ما ورته وے چې سمه شاعري څنګه وي راته یې وے چې دا ستا شاعرۍ کښې تشې شونډې - خالونه او لوښتې وي» ... ما ورته وې چې مولانا صیب زما خو هم دغه شاعري ده نو - مولانا صیب لاړو په خپله مخه روان زه خفه د ګیلې ملامته غونډې پاتې شوم - څو ورځې پس د اسلامیه کالج په خیبر یونین هال کښې د پښتو درنه مشاعره وه، مولانا صیب یې صدارت کولو - چې زما نوم واخستے شو او زه ستېج ته اوختم نو مولانا صیب راته اووے چې څه کنه مغموم جانه څه لوښتې موښتې والوزوه - ما ورته اووے چې اول دا

درې شعرونه واوره - نو بیا به درې لوښتې والوزوم - شعرونه دا دي -

ه

ستا د اوربل دا پریشانۍ مزه کړه
د تورو سترګو حېرانۍ مزه کړه
هرې توبې پسې ګناه کوم
څومره توبو کښې پښېمانۍ مزه کړه

او مولانا صیب

ځوانه ځوانۍ کښې د ځوانۍ تقاضې
په بوډا توب مسلمانۍ مزه کړه

ددې شعرونو په اورېدو ستوډنټانو حسبِ عادت ډېر واه واه اوکړل او مولانا صیب هم مُسکے غونډې شو او سرې یې اوخوزولو چې ګنې ستا خبره رشتیا ده -

نو زما ددې دومره اوږد بیان نه مقصد دا دے چې ما یو څه اراده کړې وه چې زه به خپله شاعري هېڅ کله نه چاپ کوم خو بیا غلے ایاز داؤدزے راپسې شو وے چې مه وېرېږه شاعري دې چاپ کړه - اوس هغه د نن نه دېرش کاله پخوا وخت نه دے اوس پښتو ادب دومره ترقي کړې ده چې ستا په شاعرۍ څوک اعتراض نشي کولے بلکه خلق به یې په سر سترګو قبوله کړي نو د ایاز خان په وینا مې کتاب چاپ کولو ته غاړه کېښوده

او چېله دا اراده مې چې ښاغلي صابرشاه صابر ته څو کنایه کړه
نو څو ورځې پس چې هغه دا سره مخ شو نو پوره شل صفحې
یوه مقاله یې راله په لاس کښې راکړه چې عنوان یې و

"مغموم د رومان شهزاده"

ددې سرخط په لوستو لا یم شپېشې ته اودرېدم چې خپل کړه وړه
مې په کښې اوکتل څو خدائے شته که د شهزادګانو راکښې هېڅ
هم وو بهرحال په دې مضمون کښې صابرشاه د لوښتو پخله
زما شعرونه ډېر ستائیلي دي لکه ایاز داؤدزي چې زما په
شاعرۍ کښې د پېغلې په تصور رڼا اچولې ده، نو صابرشاه
زما په مختلفو ژنګونو کښې د لوښتې په ذکر باندې بحث کړے
دے - دواړو لیکوالو د خپلې مینې او عقیدت اظهار په ډېرو
ښکلو الفاظو کښې کړے دے او زه د دوئي ډېر مشکور یم -
دا زما خوش قسمتي ده چې ماله خدائے پاک دوه شخصیتونه
داسې راکړي دي چې که دواړه په ما ګران دي نو زه پرې هم
بې شانه ډېر ګران یم - ځکه څو ایازخان چې زما د شاعرۍ
نه زما د تصور پېغله راوا خسته نو داسې سرخنه یې ورله اوکړه
چې زه یې ورته حیران کړم په دې کښې شک نشته چې ما پېغله
خپلو شعرونو کښې ستائیلې ده څو هغه زما د تصور پېغله داسې
نه وه، هغه څو ساده بوده کلي والا پېغله وه د هغې څو
دومره نخرې نه وې زده - دغه ساده بوده پېغله چې د
ایازخان ګوتو له ورغله نو داسې سرخنه یې ورله اوکړه

چې زه یې ورته حیران کړم - او د پاسه چې پرې صابرشاه
راغې نو هغه زما د شاعرۍ نه ټولې ژنګ برنګي لوښتې راغونډې
کړې - د دغه لوښتو نه یې ټول ښائسته رنګونه راټول
کړل او دغه پېغلې له یې د لوښتو یو اوږد پړونے جوړ
کړو - هغه یې ورته په سر کړو - ساده بوده پېغلې نه یې
دواړو قدردانو داسې ناوې جوړه کړه چې د پښتونخوا ټول
ښائستونه ورته ګوته په خوله شي -
زه د حُسن په لټون پسې چین ماچین ته نه یم تلے - زه
د دنګو صراحي غاړه پېغلو پسې کابل ته نه یم تلے - ما
خو د خپل کلي پېغله ستائیلې ده - د خپل چم او خپل ګاونډ
پېغله - او ثبوت یې زما دا شعر دے چې -

څه څو بانه کړه په دیوال اوګوره
ستا د کوټې سره تېرېږمه زه

ما چې ستر شاعر حمزه بابا ته دا شعر واورولو نو ډېر یې
خوښ شو - په دې شعر کښې ما نه د بدخشان د پېغلې ذکر
کړے دے او نه مې په کښې د ثمرقند حسن ستائیلے دے نو
بیا ولې د حمزه بابا دا شعر دومره خوښ شوے و - ځکه
چې د هغه په قول دا پښتني شعر دے پښتنه پېغله په کښې
مخاطب کړے شوې ده - او کوڅه او دیوال هم د پښتني ماحول

عکاسي کوي - ما خو په خپلو شعرونو کښې د پښتونخوا کچه کورونه یاد کړي
دي - کچه کوڅې مې ښائيلې دي نۀ مې د اسلام آباد محلونه ښائيلي دي او
نۀ مې د پېښور پلنو سړکونو صفت کړے دے - په کوهاټ کښې خپل دا شعر پېش
کوم - ؎ د خپل اشنا هغه خاوړينې کوڅې
د کهکشان نه خدائې کو ښې ښکارېدې

زۀ دا دعوی نۀ کوم چې زما شاعري ګني د شاعرۍ د فن ټولې
تقاضې پوره کوي يا د شاعرۍ د اصولو په تله تلې په تلې برابره ده. د خپلې
شاعرۍ خامۍ راته معلومه دي کمزورۍ يې راته معلومه دي - خو سره د دې
معلوماتو ما د خپلو شعرونو ته د دغه کمزورو د لرې کولو خاص څه کوشش نۀ دے
کړے ما په شعر کښې خيال له اهميت ورکړے دے فني ضرورتونو له نه -
ما خپلې خبرې ته د رنګينه او خوږو الفاظو رنګينه جامې اغوستولي دي -
خپله خبره مې پرې ښائسته کړې ده - او په ښکلي انداز کښې مې لوستونکو ته پېش
کړې ده - ارمان دے کۀ د غه خبره د غه شعر کښې فني کمزورۍ وي خو د
کمزورو با وجود هم دغه شعر اوريدونکو خوښ کړے دے او ماله يې "داد"
"ښۀ" په الفاظو داد ګيرنه راکړې ده -

نو ګرانو او خوږو ورونو خپله شاعري سره د خپلو ډېرو فني کمزورو
د "توره اوربل توره ګمڅۍ خبرې" په کتابي شکل کښې ستاسو په مخکښې ده -
خدائے دې او کړي چې ستاسو خوښه شي
په لوئے الله مو سپارم

عبدالله جان مغموم

۷ - ۸ - ۲۰۰۰ء

لویه خدایه

بښکته پورته لاندې باندې
او چې شاړې تاندې تاندې
دا شينکي شينکي با غونه
په غورزنګ روان سيندونه
سمې غرونه په لړزان دي
کائنات واړه پرېشان دي
شين آسمان زمکه روښودي
حق حيران ولاړ دي ګوري
چې انسان د انسان وينه
څۀ په خوند خوند څکي غټيږي
کور په کور خونه په خونه
دښمني دي چې خورېږي
د مظلوم وينه ارزانه
هرې خواته ده روانه
رور د رور په مرګ ناست دے
زوئے د پلار سره په جنګ دے

دَ انسان انسانیت نن
د چپوان په زنګ کښې زنګ دے

دَ وطن په پاکه سیمه
یو تالان دے یو یرغل دے

لویه خدایه لویه خدایه
دا څهٔ چل دے دا څهٔ چل دے

ورپسې زلمو ځوانۍ خاورې ایرې کړې
خدائے دې ګونګ کړه څهٔ له پېغلو ته خبرې کړې

چې مې غټ قسمونه اول مات کړل
بیا توبې مې چېلې ټولې ورپسې کړې

تصوّر چې د سرو شونډو راله راغلو
نو را پاڅېدم ډیوې مې ټولې سرې کړې

کهٔ هر څو مره هم د نځور یم نو به روغ شم
ځو کهٔ زلفې دې په ما لږې خورې کړې

په دې راز باندې زهٔ خدائیګو کهٔ څهٔ پوهٔ شوم
چې دې سترګو بېګا چا ته اشارې کړې

بس یو پو تې غوندې خندا اوکړه ته
او د خندا سره ادا اوکړه ته

خدایګو د لارې نه به ستون شمه زهٔ
څو یو نظر ګلې په شا اوکړه ته

هغه یو ګل چې دې څوا کړے وه
هسې ادا یو ګلې بیا اوکړه ته

ما ورته وے لږ مسکۍ شه کنه
نو راته ئې وے لږ ژړا اوکړه ته

معشوقه واخله د ځوانۍ څوندونه
نو بیا دې غم لږ د عقبیٰ اوکړه ته

داسې په ما باندې وختونه راغلل
بې غمۍ لاړلې غمونه راغلل

ستا تصور چې مې د ځان سره کړو
چرته ریله بېګا خوبونه راغلل

وفا دې ټوله د رقیب سره شوه
زما په برخه تش لوظونه راغلل

ستا په راتلو دنیا آباده شوله
نو ته چې لاړې قیامتونه راغلل

څومره چې ما د زړهٔ شکوونه ویستل
هومره مې زړهٔ کښې نور شکوته راغلل

اول به زړهٔ سره صلاح کوَمه
ناصحه بیا به ستا رضا کوَمه

دومره خبر شئ چې مېن یمه زهٔ
نوره قصه به درته بیا کوَمه

ددې دنیا نه ځکه بدې شم چې
خیره سینه او صفا کوَمه

د عشق سختی او خندا کانې نرما
لال یم اِیرو کښې هم ځلا کوَمه

مغموَمه ته په کومو کندو سرشوې
زهٔ خو قصه دَ خپل اشنا کوَمه

نشې نشې سوده نشې دي منم
سترګې دې سرې ډکې کاسې دي منم

اوس به محفل کښې شمعه بله شي جوړ
دا پتنګان ځکه دلې دي منم

ستا ټپنیځ مکېز او ګل ورینه خندا
دَ پېغلتوب څو تقاضې دي منم

دَ چا به شپې ورځې رنګینې وي نو
په ما رڼا ورځې تیَرې دي منم

دا ناصحان یُې تېس ایستلے نهٔ شي
دَ مغموَم کلکې ارادې دي منم

بیا مې ارادې جوړې نن ځوانې شوې
ځکه په توبو باندې پښېمانې شوې

ولې به د ستورو احسان مند نهٔ یم
شپې مې د بېلتون چې پې آسانې شوې

تکې تورې شپې او تنهایي زما
ما وې جوړې آسانې دې خو ګرانې شوې

بیا دې آئینه کښې جوړ کتلي دي
ځکه اداګانې دې بل شانې شوې

مغموم چې کړه توبه د ګناهونو نه
خدایږګو تورې شپې یې مسلمانې شوې

تکې تورې شپې کړې تا
بیا زلفې خورې کړې تا

اووې په غصې کښې تا
ماتې مې ګجرې کړې تا

کله به مُسکې شوې تهٔ
کله به نخرې کړې تا

هرې یو ادا کښې نو
خدایږګو زلزلې کړې تا

لا په دیدن مور نهٔ وم
ولې دیوې مړې کړې تا

شپه د انتظار په شوګیرو تېره وم
لاره ته په کتو په اندېښنو تېره وم

اوس چې زلمیتوب په مېکدو تېر وم
بیا به بوډاتوب په مصلو تېره وم

اووے پسرلي راته نن بیا په خندا
بڼې زلزلې دې په توبو تېره وم

زه د بېلتانه دا اوږدې شپې اشنا
پوهـ شه چې په غنو په اغزو تېره وم

پېغلې آئینې ته په خندا ګښې اووے
څنګه قیامتونه په زلمو تېره وم

څوک به ئې د ستورو په کتو تېروي
زه خو تنهایي په اسوېلو تېره وم

ته چې زلفې راخورې کړې توره شپه شي
نو د ورځو نه دا شپې خدائګو څوړدې شي

د بیلتون په تنهایو کښې چې رایاد شي
په ژړا ژړا مې تورې سترګې سرې شي

څو چې داغ مې په لمن باندې را ټښي
ارمانونه مې دې ټول خاورې ایرې شي

ستا د تورو تورو سترګو بلا واخلم
چې لټا څو به دا شپې ډېرې درنې شي

که د زلفو کښې لاره دې کړه له سمه
لاروي به لڼ منزل ته ورنږدې شي

وږم چې ستا دنیا هم او سوزوم ایره کړم
چې دې زړهٔ خدایه د زړهٔ په رنځ اخته کړم

دې ناصح ته خو زړهٔ هسې په حواله ښهٔ کړم
کنې څهٔ چې راته زړهٔ وائي هغه کړم

کهٔ سپرلي کښې مې توبو ته نیت خراب شهٔ
د تسبې به بیا واعظ ته حواله کړم

ستا په نهٔ راتلو زړهٔ خدائېګو کهٔ خفه یم
خو دې ستورو ته دې ډېر بیګا ګیله کړم

مېکدو ته خو به مهٔ وایه ناصحه
کنې یاده به زړهٔ هم ستا مصله کړم

چې لمن مې پرې سالمه پاتې کېږي
کړې بو اتونه به زړهٔ ټول ریخه کړم

چې ستا زلفې ولونه ولونه او نرۍ نرۍ کمڅۍ شي
جوړې ماته زولنۍ شي جوړې ماته ټېرندۍ شي

د فطرت دغه قانون دے د فطرت دغه اوصول دے
چې ږو مېږے د زړېد ونه غوټۍ او خاندي مسکۍ شي

شمعه ماته ګوري ژاړي او زهٔ شمعې ته ژړېږم
داسې تېرې او بدې شپې شي داسې تېرې تنهایۍ شي

د الفت ګودره شاړ شي د الفت ګودره وران شي
زلمیتوب درکښې رسوا شي خاورې ایرې درکښې ځوانۍ شي

چې کهٔ ستا د غاړې هار شي په دې طمع طمعه
زما او سبکې ستورې ملغرې شي لړۍ شي

ګلان ټول ازغي ازغي شول په کتلو کښې څوک کېږي
کلي هم سوبې سوبې شوې په ليدو کښې څوک کېږي

سفر وخت کښې بيا منزل ته رسېدل خدايګو چې ګران شي
مايوسۍ چې شي را مخکښې حوصلو کښې څوک کېږي!

ټول ماحول څومره رنګين وي، خاموشۍ څومره حسينې
چې رڼا د تتکو ستورو تورو شپو کښې څوک کېږي!

لوېښتو باندې چې پېغلو سپين پړوني راپه سر کړل
دَ زلمو تېره نظر جوړ لوېښتو کښې څوک کېږي

جوړ ځواني په تېرېدو شوه، علامه دَ بوډاتوب شوه
دَ ګناه هر يو احساس چې مې توبو کښې څوک کېږي

اے! ګلونو يوې پېغلې داسې وے چې پس له دې نه
دَ مغموم رنګين غزل به په کمشو کښې څوک کېږي

ستا دَ زلفو سلسلې دي
څومره ګوړې دي اوږدې دي

دَ شفق سُرخي ترې زار شه
دا ستا شونډې داسې سرې دي

ټول ماحول غمژن دے
مايوسۍ پرې را خورې دي

هر يو ستورے ته چې ګورم
سور انګار دے سرې لمبې دي

دا دنيا رازونه فاش کړي
دا تېرې ترې خدايګو نښې دي

بې واره تویېدلې بې اختیاره څڅېدلې
نن اوښکې مې په مخ ډیوې ډیوې وې بلېدلې

بېګاه په ډک محفل کښې راته اووایه چې ګلې
ته ماته خندېدلې که بل چاته خندېدلې

بې تا نه ګلې څرنګه خاموشه خاموشي وه
تېرې هم د تېرونه وېرېدلې بوږنېدلې

د مینې ابتداء کښې څه عجیبه شان قصه وه
زه تا نه شرمېدم ګلې ته ماته شرمېدلې

مغموم څو لېونے دے څه په څو د نه د زړه ګیله
خفه ترې نه په څه یې ګیله منه یې ترې ولې

تنهایي مې دي ملګري او غمونه راسره دي
څه او کړم خدایه دوزخونه راسره دي

ستا په تور اوربل کښې ایښودو د پیاره ګلې
څو تنکۍ، کلۍ او څو ګلونه راسره دي

د چا سپېره نظر یې رالا نه کړې د نظره
هر وختې اے ملګرو دا فکرونه راسره دي

خپه دے نه کمېږي په ژړا به څنګه کمې شي
څو اوښکې څو نه دي سېلابونه راسره دي

مغموم یواځې نه دے فکر مه کوه ملګري
که ته راسره نه یې ستا یادونه راسره دي

پرهرونه جوړوي زړه کښې زخمونه جوړوي
هره یو ادا دې قیامتونه جوړوي

زړګي د چا مئېن په پکښې هسې بندیوان شي
نادانه په اوربل کښې څڅه له ولونه جوړوي

سم مې په زړګي کښې تور داغونه را ښکاره شي
هغه چې په سپین مخ شینکي خالونه جوړوي

شپه تېره په ژړا شي او ورځ تېره ناقلاره
انتظار څو د لمحونه سم کلونه جوړوي

ارمانونه ټولوي او حسرتونه غونډ وي
مغموم تېرې په خپل زړه کښې څو قبرونه جوړوي

ستا د مسکا ستا د خندا نه قربان
قربان قربان هرې ادا نه قربان

چې دوه مئېن په کښې منزل ته رسي
د هغې عشق د انتها نه قربان

شپه د بېلتون چې په وصال بدلوي
هغې سپوږمۍ هغې رڼا نه قربان

زړه ناقلاره ته قرار رسوي
ستا د پازېب د شرنګا نه قربان

هلته کهٔ مینه او مېن نهٔ وي نو
هغه دنیا ددې دنیا نه قربان

کچه کچه راټوکېدلې کلۍ
ستا د ځوانۍ د ابتداء نه قربان

چې پکښې ستا د زړهٔ درزا اورمه
د هغې شپې هغه چُپیا نه قربان

کله کله راته اوګورې مُسکۍ شې
کله کله چې غصه شې سره بخمۍ شې

ستا ښائست او پېغلتوب ته ئې چې پام شي
هره سروه د چمن پېغله جینۍ شي

هر یو وار چې ورته ګورمه حېران شم
کله شمعه کله ګل کله سپوږمۍ شي

چې ئې ستا په تصور کښې یاره لیکم
نو مصرعې د هر یو شعر دوه کمڅۍ شي

چې ته نهٔ ئې نو خاموشه خاموشي وي
خو چې راشې نو محفل کښې رنګینې شي

په قسمت ئې د آسمان ستوري شمېرل شي
د هر چا چې خپلې ځوانۍ شپې پردې شي

یو رنګین غوندې غزل ترې خدائېګو جوړ شي
چې ستا شونډې ستا خالونه ستا کمڅې شي

چې خپره د مطلب مخې له را شي
نو نادانه شي ماشومه شي کمکۍ شي

د زړهٔ تسکین په مېخانو کېږي نهٔ وُ
د سرو شرابو پېمانو کېږي نهٔ وُ

اوده جذبې را لړزوو سنګې اَثر
ربابه ستا په ترانو کېږي نهٔ وُ

ټول کېږ چاپېره تاوېدل له شمعې
هېڅ رقابت په پروانو کېږي نهٔ وُ

ځکه پرې زهٔ نن بدګمانه شومه
چې تسلسل ئې بهانو کېږي نهٔ وُ

دَ مېخوارانو محفل سور غونډې وُ
نن چې مغموم په مېخانو کېږي نهٔ وُ

کله کله مې دا زړهٔ داسې خفه شي
ټول جهان توره تیارهٔ شي توره شپه شي

چې دې تش د لوښتې پلو ښکاره شي
رنګینۍ مې د خیالونو یوُ په دوه شي

نو دې پېغلې چې غصه شي نو ترخې شي
او لالۍ چې په غصه شي لا خوږه شي

یو لمن مې دې سالمه وي نو خیر دے
ګریوانونه مې که ټول ریښه ریښه شي

چې ښائست او پېغلتوب سره یوځائے شي
هره پېغله یوه مسته شان نغمه شي

بهانه به د ورتلو شي راته جوړه
خدائے دې اوکړي چې یو سل واره خفه شي

چې زمانه دې محفل ته چې بل را شي
یو ازغے شي راته سترګو کښې څوکه شي

مست تسم دَ پازیبو دَ شرنګا سره
یا دَ مستو ښېغلو دَ خندا سره

نِشته خدایګو هیڅ نشته زما سره
لاړه خوشحالي خندا دَ تا سره

یو ځل زما زړهٔ داسې درزیږي نه
هر ځل په لړزان شي ستا ادا سره

تورو تورو زلفو توري شپې کړلې
توري شپې صبا شوې ستا خندا سره

وزخله اے مغمومه دخوانۍ مزې
روستو به بیا ګورو دَ عقبې سره

چې ستا خندا زما ژړا اونهٔ شوه
نن مې دَ زړهٔ تسلّي بیا اونهٔ شوه

دا راته وایه بیا به څهٔ کړم ګلې
کهٔ حوصله مې تر صبا اونهٔ شوه

تهٔ چې محفل ته یاره را نغلې نن
شمع خو بله شوه رڼا اونهٔ شوه

بس تسلّي دَ ناقلاره زړګي
هم په دُعا هم په دوا اونهٔ شوه

چې په دُعا کښې تر نه هېر شو مغموم
نو اشنائي خو دَ اشنا اونهٔ شوه

په ځوله کښې اه په زړهٔ غمونه لرم
خدايږکو هم دا دوه نعمتونه لرم

لا څو توبې ته برابر نهٔ يمه
لا څو په زړهٔ کښې ارمانونه لرم

زهٔ دَ هغې دَ هر کلي دَ پاره
لا څو څو اوښکې څو آهونه لرم

نن په خندا کښې شين خالې اوويل
هرې ادا کښې قيامتونه لرم

مرګيه! پام کوه دَ وخته نهٔ شې
لا په دنيا کښې ډېر کارونه لرم

دا غلې ورځې شپې د پرېشانئ زما
اوکړې تقاضې خپلې ځوانئ زما

پټ رازې څرګند کړو رقيبانو ته
راشئ دا دې ګورئ نادانئ زما

ما چې کړلې ماتې مېخانه کښې نن
دا هغه توبې وې پخوانئ زما

زهٔ څو اسې د پاره دومره پوهٔ شوم
چوړې آبادئ وېرانئ زما

هلته آئينه درته حېرانه ده
دلته دي حېرانې حېرانئ زما

ستا د وصال په رنګينو کېنې اوسم
په غوړېدلو پسرلو کېنې اوسم

ما خو يو ګل د پسرلي کړې د سبه
چې بيا د پېغلو په کمڅو کېنې اوسم

ستا د پښو په هر يو شرنګ مې قسم
ژوند مې نغمه شو په نغمو کېنې اوسم

دا پېغلتوب مو خدائ نصيب کړه پېغلو
زه مو نشه کړم په نشو کېنې اوسم

د ژوند د ډېرو ناکامو د لاسه
يو اسوېلے شوم اسوېلو کېنې اوسم

دا د زلفو سلسلې چې راغورې شوې را اوږدې شوې
دا بېدارې شوې شپې او ورځې لا لړلې اودې شوې

دا ګړې ستا د ځوانۍ وه، که لمبې وې د سرو شونډو
چې په هسې تصور ئې د خيبر تېرې پستې شوې

ارمانونه حسرتونه څه ځوانه ځوانه يادونه
وخته بس په وړاندې مه ځه روستو پاتې قافلې شوې

دا د چا وې آرزوګانې چې دا ستا د در شوې خاورې
دا د چا د مينې اور وُ چې ايرې ستا د کوڅې شوې

هر يو غشے اوس خطا ځي د زړه نښې نه په څوا ځي
سپېلنے شم د يار سترګو د چا سترګې در پسې شوې

دا ګلونه که اغزي وو خدائ خير دے چې دا څه وو
هم مې سنځ شو په نظر کېنې هم مې سترګې پرې خوږې شوې

مینې دې آسانې راته ګرانې کړې
ټولې حوصلې مې یې حیرانې کړې

اوکړه تماشه دَ پتنګانو مې
هر یوۀ سره شمعې هلاکانې کړې

ستا مړاوي نظر ایله تازه کړمه
مړاوې حوصلې یې راله ځوانې کړې

ولې ارادې خپلې ځرګندې کړم
ته به یې ناصحه مسلمانې کړې

مینه کښې مغمومه نادانۍ ښه وي
خدایه ټولې پوهې مې نادانې کړې

رقیب چې ساله نن پېغور راکوي
خدایګو غمونه راله نور راکوي

وهم چې په زلفو کښې دې پټ شمه زۀ
داسې صلاح دې اوربل ځور راکوي

چې مې دَ زړۀ خوښه کولې نۀ شي
نو جوابونه څۀ له سپور راکوي

ستا دَ خوږو خوږو خبرو لوګې
راله په خوږ زړګي ټکور راکوي

دغه یادونه دې لږ پوځ کړه کنه
بیا بیا بلنه ستا په لور راکوي

شمعه بلېږي د دنيا دپاره
د پتنګانو د قضا د پاره

لا به تر څو پورې ژړېږمه نور
ستا د پوټې غوندې خندا دپاره

د آسمان ستورې مې په شمېر کړل کُلې
پاتې يو څو شو د صبا دپاره

دا زهٔ منم چې لېونے يمه خو
يم لېونے څهٔ مُدّعا دپاره

ستا د خندا په انتظار دي کنې
کله تيارې دي خندا د پاره

اوښکه څوک دے نوے ژوند دے دې اوبو کښې
دا ته اووے صُراحی په غړغړو کښې

نهٔ مې ورځو کښې سکون شته نهٔ په شپو کښې
پرېشانۍ مې داپسې شوې دي مغزو کښې

تهٔ د سرو شونډو د تاوه څهٔ خبر يې
سرې لمبې يې بلې کړې دي سينو کښې

محفلونه د سرود ځکه ساړهٔ شول
پېغلو وړچول پازېب په خپلو پښو کښې

نهٔ شراب و نهٔ ساقي وُ په محفل کښې
وو مدهوشه ستا د سرو سترګو نشو کښې

څومره ښهٔ د تصور هغه ساعت وُ
چې تيالونه مې وهل ستا په کمڅو کښې

نغمې نغمې دي د ليلى خبرې
څو مره خوږې دي ياره ستا خبرې

دا د وفا او د جفا خبرې
دي د خندا او د ژړا خبرې

ښايي دنيا کښې د دنيا خبرې
ناصحه پرېږده د عقبى خبرې

زه خو د ستورو سره تل کوم
ستا د ښايست او د ادا خبرې

د دې دنيا خو څه بدې شم چې
کوم سپينې او صفا خبرې

ستا د پياځلو مستو مستو نغمو
کړې لې خطا را نه دښتيا خبرې

راغې ماښام ډېرو غمونو سره
سپينه سپوږمۍ تورو داغونو سره

سترګې پېدا دي د ژړا د پاره
ښايي خندا د پرهرونو سره

څه تسبې څپلې واعظ ته بخښم
راغې ساقي چې د جامونو سره

ستا د راتلو ساعت څو دومره اوکړل
خدايګو عادت شوم قيامتونو سره

غريب شفق به څه سيالي کړي ګلې
ستا په نکريزو سرو لاسونو سره

تورې تیرې راته فنا ښکاري
چې دې په سرو شونډو خندا ښکاري

په تورو شپو چې نا قلاره کړمه
خدائیګو یادونه راته ستا ښکاري

ستا د وربل تیرې منمه ګُلې
د پریشانۍ په کښې زما ښکاري

زما د زړهٔ دې سادګۍ ته ګوره
هره جفا چې راته ادا ښکاري

وخت د وصال کښې چې ځلې راوښکې
د خوشحالۍ مې انتها ښکاري

خدایه ترڅو به نور ژړېږمه زهٔ
غم د بېلتون کښې به کړېږمه زهٔ

څهٔ خو با نه کړه په دېوال راوګوره
ستا د کوڅې سره تړېږمه زهٔ

دا مې د عشق کاملېدهٔ دې کنه
چې د نارنج هسې زېږېږمه زهٔ

په حقیقت د دې دُنیا یوے شمه
چې ادیرې سره تېرېږمه زهٔ

مخ دې راواړه وه ډیا کړه ګُلې
د زلفو شپو کښې دې وېرېږمه زهٔ

○

کلۍ زړه بې څه مُسکۍ ښونه دي
مړاوي ګلونه دي غوټۍ ښونه دي

ورته منګل تل وار خطا وي ځکه
دا خماران دي څه کمښتۍ ښونه دي

ځکه ښوې زه داسې بې واره تویوم
اوښکې مې خپلې دې پردۍ ښونه دي

څه شوه چې زه ورته ژړېږم مُدام
په عشق کښې دا څه کمزورۍ ښونه دي

هسې به ژاړي لا مُسېږي ولې
سترګې ناپوهه لېونۍ ښونه دي

○

د نهي اوښکې مې ځلېږي په ککو کښې
لکه ستورې چې ځلېږي توروشپو کښې

د اغیارو په محفل کښې داسې ښکارې
لکه ګل چې توکېد لے وي اغزو کښې

اے ناصحه کۀ ستا او منم توبه کړم
بې رنګي به راپېدا شي مېکدو کښې

دګې شپې ورته د ستورو هم پسېږي
زړه ګلونه ئې چې اېښولي وي کټو کښې

اداګانې چې هر څو مره کوې خپل دے
څو چې کبر دې را نهٔ شي په مغرو کېږې

اراده مې د ورستلو ده نن ورځمه
برکت مې دې خدائے وراچوي په تلو کېږې

خوب خندا به په مغموم باندې حرام کړي
یوه پېغله به پېدا شي جینکو کېږې

راشي راته اوګوري مُسکۍ نشي
راشي پسرلے څو رنګینۍ نشي

پوځیم چې سپوږمۍ دَ څهٔ سیالي کوي
میاشته شي نرۍ شي څونتکۍ نهٔ شي

شمعه هم ژړیږي هم خنداکوي
دا راسره غم دے لېونۍ نهٔ شي

دا دَ غیرت ډکه پښتنه لمن
چاته دې څوره چاته پولۍ نهٔ شي

مهٔ وایه څهٔ ماته دَ رېبار په خوله
ستا زما خبرې دې پردۍ نهٔ شي

نشي تسلّي د ناقلاره زړهٔ
څو چې راته اوګوري مُسکۍ نشي

بیا دې یادونو سلسلې جوړې کړې
بیا دې غمونو تورې شپې جوړې کړې

ستا د ځوانۍ د تقاضونه قربان
هرې ادا دې زلزلې جوړې کړې

د پېغلتوب کور دې ودان اوسې تل
چې دې د پېغلو نه نغمې جوړې کړې

ستا د سرو سترګو د سيالۍ په خاطر
خلقو شرابو له کاسې جوړې کړې

چې رنګینۍ ته لې را غونډې شوې
پېغلو ترې ځان له لوپټې جوړې کړې

ما دې وړکوټې شان زړګي کښې ګلې
د ارمانو ادیرې جوړې کړې

ستا د بېلتون تیرې روښانه نهٔ شوې
مغموم کهٔ اوښکو نه ډیوې جوړې کړې

بیا دې یادونو سلسلې جوړې کړې
بیا دې غمونو تورې شپې جوړې کړې

ستا د ځوانۍ د تقاضونه قربان
هرې ادا دې زلزلې جوړې کړې

د پېغلتوب کور دې ودان اوسې تل
چې يې د پېغلو نه نغمې جوړې کړې

ستا د سرو سترګو د سيالۍ په خاطر
خلقو شرابو له کاسې جوړې کړې

چې رنګينۍ تېرې را غونډې شولې
پېغلو ترې ځان له لوپټې جوړې کړې

ما دې ورکوټي شان زړګي کښې ګلې
د ارمانو اديرې جوړې کړې

ستا د پېلتون تيرې روښانه نه شوې
مغموم که روښانو نه ډيوې جوړې کړې

نور دې اے ژوندونه په سجدو نهٔ تېر وم
نور دې په شمېرلو د تسبو نهٔ تېر وم

څُمه مېکدې ته لېونې دي هلته ډېر
نورې تنهايي په اسوېلو نهٔ تېر وم

زړهٔ مې دے ژوندے رو ارادې مې هم ژوندے
نورې لوړې تندې په ژوندونه تېر وم

هم ستا تصوّر راشي راله خوب راولي
زهٔ د بېلتون شپې په شوګېرو نهٔ تېر وم

لاړ شه اے مغمومه چار دې ښهٔ کور دې آباد
زهٔ ځو رانه ځواني په مصلو نهٔ تېر وم

بېلتانهٔ کښې څهٔ دا هسې چل په ما شي
شپه درنه شي هر يو څيز توره بلا شي

کله کله تصوّر کښې داله راشي!
راته اوګوري مُسکې شي په خندا شي

تصوّر د لوېښې چې راله راشي
د شفق رنګينې لاړې شي فنا شي

تنهايي کښې د زړګي داغونه شمېرم
دومره ډېر دي چې ټُې شمېر رانه خطا شي

ستا پوټے غوندې مُسکا ته نهٔ رسېږي
ټول ګلونه د چمن کهٔ په خندا شي

ستړي ستوري څو اوده شول په ارام شول
زه به ویښ یم تر هغې چې هغه راشي

یو دې غم د بېلتانه ورسره نه وي
نور دې ټول غمونه راشي چې زما شي

په وصال کښې مې دا زړه ولې درزېږي
چې منزل ته ورسېږي وارخطا شي؟

نن په فضا کښې د رنګینۍ ښکاري
ګل په خندا کلی مُسکی ښکاري

ستا د سرو سترګو په نشو مې قسم
پکښې سرور په کښې مستي ښکاري

د ستړي زړه د ستومانو دلاسه
هره یو ساه مې یو سلګۍ ښکاري

صراحي ستا په غړغړو مې سوګند
د ژوند مقصد دې بس اِتکۍ ښکاري

د پېغلتوب د تقاضو د لاسه
هره یو پېغله لېونۍ ښکاري

راځئ ستوروچې اوده شو شپه پخه شوه
هغې پېغلې نه جوړ بیا هېره وعده شوه

دې زما څېرې ګرېوان ته ځې چې پام شو
نو په خپلو ستمونو نن داده شوه

د رنګینئ د لوپټې به دې سوا شي
که زما د زړه په وینو لړه سره شوه

چې زه ستا او ته زما شوې د زړه سره
د ژوندون تپه نیمګړې وه پوره شوه

د خندا د زړه ارمان جوړې پوره شو
چې ستا سرو شونډو له راغله پرې نور شو

په درشل د پېغلتوب چې قدم کېښو
اول ګل وې اوس د ګلو یو غنچه شوه

چاته شراب چاته کاسې ښکارېږي
ماته ستا سترګې مېکدې ښکارېږي

زما د اوښکو مقابل کښې بېګاه
ستورې ورې ډېوې ښکارېږي

د خوبن رڼا هغه خاورینې کوڅې
د کهکشان نه خدایګو ښې ښکارېږي

چې ستا د تللو ساعت راځي ګلې
د هر یو ستورې سترګې سرې ښکارېږي

ته چې محفل ته یاره راتلې نن
شمعې که بلې وې هم مړې ښکارېږي

هرته چې زلزل غوندې پیدا شي حوصله کښې
زړه یمه روان د ژوند په هغې مرحله کښې

هلته ستا غوبړونو کښې دورونه په تالی وو
دلته ځنګېدم زړه د الفت په ګواره کښې

یو پس له څه چې پس لو کښې خدائیکو نشته
دومره رنګینۍ دې پېغلې ستا په لوپټه کښې

ته چې را ښکاره شې او زړګے مې په درزا شي
څومره ډېر خوندونه وي په دغه زلزله کښې

بس دے د توبو نه څو خدائے ټول عمر له خلاص کړم
ته لې مې غوپه کړې د شرابو یو کاسه کښې

ځنګه دې ځائے شوي خدایه زړه ورته حیران یم
دومره ځېر غمونه دې وړه غوندې سینه کښې

بس دے دا نیمګړي ارمانونه به راټول کړم
جوړ به مزارونه کړم د زړه په ادیره کښې

نن که چرې ژوند وُ د هغې وعده رښتیا شوه
مل به دوه مئین شي د یو بل سره په شپه کښې

ورشه اے مغمومه چې د ژوند په خوږو پوشې
ډېر دي لېونې دغه ورا یسته میکده کښې

هر طرف ته ګورم مایوسۍ دي او غمونه دي
ګېر چاپېره تاوُ رانه سرو ټکي دي اوُرونه دي

نور دې هم څو ورځې د چمن ګلونه وخاندي
څو چې په خندا زما د خوږ زړهٔ پرهرونه دي

څومره بختور دي چې پوره يې حسرتونه شو
ستا په تور اوربل کښې په خندا څکه ګلونه دي

اوس خو د منزل د رسېدو خبره ګرانه شوه
اوس خو هر قدم کښې ټېندکونه دي دامونه دي

مغموم خو دې حالاتو په ژوندون پورې ستومانه کړو
څومره پرېشانۍ دي ګلې څومره ډېر غمونه دي

ما په زېر زېر ورته کتلې نشو
په ډټو ډټو مې ژړلې نشو

زړهٔ د ګناه نه وېرېدمه څکه
څاڅکې شراب مې هم څکلې نشو

ما وې چې تا نه به څهٔ سوال کومه
څهٔ مې غوښتل خو مې غوښتلې نشو

زما د زړهٔ د تسلّۍ دپاره
دا رقيبان دې لږ شړلې نشو

ستا د محفل د بلې شمعې ګورې
دا پتنګان مې هم زغملې نشو

ډېر لمسونو نه راته شوي دي څو
د رقیبانو مې منلې نهٔ شو

ستا د راتلو په انتظار کښې ګُلې
د آسمان ستورې مې شمېرلې نهٔ شو

چې د راتلو نه دې خبر شو مغموم
د خوشحالۍ نه يې خندلې نهٔ شو

خدايه يو څو ورځې ژوندون دې راکړو
او هغه هم په مېکتون دې راکړو

دا علامه د بل طوفان ده جوړې
چې يو پوستې غوندې سکون دې راکړو

سر په زنګون په فکر ناسته شوله
ښهٔ شوه چې سوچ له دا زنګون دې راکړو

خدايه همت هم د فرهاد راکړه چې
غم لکه غر د بې ستون دې راکړو

هغې له هم خوئې دَ لیلیٰ ورکړه نو
ماله جنون چې دَ مجنون دې راکړو

ژوند دَ ژړا کله خندا شي پکښې
ما وے جوړ تریخ دے خو ترسکون دې راکړو

خدایه! اول دې زړهٔ مئین کړه او
بیا دَ فراق دا ښوانځون دې راکړو

مَکوُ ساقي نن راته نا مَکوَه
مَکوُ دا ظلم ناروا مَکوَه

ناصحه نن درته څهٔ نهٔ وېمه نو
دا سې خبرې راته بیا مَکوَه

زړګیه نن خو په آرام ئې کنه
پرېږده غمونه دَ صبا مَکوَه

کوم ستم چې څومره کولے شې تهٔ
زما دَ غم هډو پروا مَکوَه

چې ستا مغموم پرې خفه کېږي ګُلې
دا سې قیصې ورته تهٔ بیا مَکوَه

دا څو څه غم نه دے چې تېر ئې کړمه
اشنا يو خوب نه دے چې هېر ئې کړمه

شپې وې اوږدې او مشغولا مې ايله
د غمو ستورې وې چې شمېر ئې کړمه

هغې نن اووے آئينې ته داسې
حُسن مې کم دے څه چې ډېر ئې کړمه

ما ئې د سرو شونډو نه غلا کوله
زلفې وَلوَل شولې راګېر ئې کړمه

اشنا مې ځان دے زه به ځان هېر وم
خدايګو جهان نه دے چې هېر ئې کړمه

څه ژړا شي څه سلګۍ شي د غزل جوړه مطلع شي
آ سوېلي زما شعرونه د نېې اوښکې قافيه شي

يو نرۍ غونډې مُسکا چې ستا په سرو شونډو خوره شي
ټول ماحول سرور سرور شي او فضا يوه نغمه شي

زما سترګې خدائے ډېوې کړې زما اوښکو رڼا اوکړه
دا زړه چاودې شمعه پرېږدئ چې سلګو سلګو کښې مړه شي

ستا د سرو شونډو اثر دے او د شنې لوُښتې عکس دے
چې لمبه د تنکۍ شمعې کله سره شي کله شنه شي

څه کږه غونډې تبسکارېږي دا دُنيا راته هم خدايګو
کله کله ستا د زلفو تېغه لاره چې کږه شي

نور زه هيڅ درنه نه غواړم هيڅ ارمان مې په زړه نشته
د ځوانۍ څو تقاضې دي لويه خدايه کله پوره شي

د واعظ په دې ذکرونو او توبو چې غلط نهٔ شي
بې وسه چې شي را جمع ترې نه جوړه بس توبه شي

کله کله په محفل کښې چې بې خیاله په خندا شي
ستا سرې سترګې شي جامونه سرې شونډې مېکده شي

مونږ د زړهٔ حالونه وایُو سترګو سترګو کښې یو بل ته
زړهٔ هغې ته آئینه شم هغه ما ته آئینه شي

چې د شین آسمان سینه کښې تنکي ستوري را ښکاره شي
ما ته یاد شي مُکښونه ما ته یاده لوټه شي

شوے
ویم چې هغه وخت ترې زار شوے هغه وخت ترې نه لوږے
چې غوټې نه ټکه سره شي چې غوټې نه سره لمبه شي

د بېلتون په تورو شپو کښې تصور کښې راله را شي
زما سترګو کښې ئې شپه شي زما سترګو کښې اوده شي

را غلهٔ غمونه جوړې نو را غلهٔ
خاموش زړګي ته څهٔ په شور راغلهٔ

د ټوک دودې غم مې ژړلے نهٔ شو
د عشق غمونه په پېغور راغلهٔ

څو اسویلي مې ورسره شو څکه
دا طوفانونو لړ په زور راغلهٔ

ما ئې نقشونه جوړول په زړهٔ کښې
ښهٔ شوه خالونه پکښې تور راغلهٔ

زهٔ د غمونو نه خبر نهٔ وُمه
یو ځئ شوم اِیله چې مې په کور راغلهٔ

هغې وېل تهمت په ما پورې شو
ما وې چې نا خدا یېګو په ما پورې شو

د رنځ علاج په طبیبانو نهٔ شو
پاتې اُمید مې یو په تا پورې شو

بیا پتنګان درنه چاپېر شول شمعې
محفل دې ګرم تر صبا پورې شو

اول به غم وُ د محشر راسره
اوس د جفا نه تر وفا پورې شو

تا د غصې نه تندے ګُنجې کړلو
دلته په نوم د یو ادا پورې شو

مغموم خو خدائے سره وعده کړې وه
تور د ګناه پرې ولې بیا پورې شو

ځکه مې ډېرې پرېشانۍ شي کنه
قصې را یادې پخوانۍ شي کنه

ددې دُنیا سختې مې خوښې دې چې
هلته به ما ته آسانۍ شي کنه

چې آئینه راته حیرانه شي نو
ځکه مې ډېرې حیرانۍ شي کنه

ښکته چې سر په ځنګنو کښې کړم
یادې مې ټولې نادانۍ شي کنه

خو تقاضې چې شي شروع مغمومه
نو علامه بس د ځوانۍ شي کنه

ځکه زمانه نن ژړا هېره شوه
چې د هغې نه نن ادا هېره شوه

عمر مې ټول په ژړا کانو تېر شو
زما د شونډو نه خندا هېره شوه

ستا د ښائست په تماشه شوه ګلې
شمع ګل کېږي ترې رڼا هېره شوه

اوښکې ګستاخې دا روانې شوې
وخت د وصال کښې ترې حیا هېره شوه

د ذرې پرهر به چې ښه شوے وي نو
مغموم نه ځکه جوړ ژړا هېره شوه

اول ژړا وي بیا سلګۍ شي کنه
داسې د ذرې مې تسلۍ شي کنه

شمعې بس نوره دومره بله شه چې
دا پتنګان دلې دلې شي کنه

راځې ماښام د ډېرو ستورو سره
اوس څو به تېرې تنهايۍ شي کنه

مانه که پاتې شي زما جونګړه
تانه به هم پاتې ماڼۍ شي کنه

ذره مې په دغه ځاے شي څرېکې څرېکې
چې دا په یاد ستا یې ارزۍ شي کنه

مغموم په غم کښې په خندا وي ځکه
چې په خندا تېرې سختۍ شه کنه

کهٔ هرڅو دې غم د حد نه پهٔ ورتیر شي
حوصله مې شي مضبوطه زغم مې ډېر شي

کهٔ به ئې زړهٔ نه یو ساعت له هم تهٔ روڅې
نو مغموم دې له خپل خدایه څنې هېر شي

نشو ساقي په ډېرو څکلو نشو
هېر مې اشنا په هېرولو نشو

څهٔ شوه کهٔ نن مو په خندا کړمه زهٔ
غم خو ځکه په خندولو نشو

خوشي عبث دې کوششونه زما
جوړ مې قسمت په جوړولو نشو

زهٔ خو حېران یم چې دا زړهٔ مې ولې
خور د اوربل په خورولو نشو

ستا د اوربل دا پرېشانۍ مزه که
د تورو سترګو حېرانۍ مزه که

هرې توبې پسې ګناه کومه
څومره توبو کښې پښېمانۍ مزه که

ځوانه ځوانۍ کښې د ځوانۍ تقاضې
په بوډا توب مسلمانۍ مزه که

مانه زما د حال تپوس مهٔ کوه
په زړهٔ زخمي په خوله خندا یمه زهٔ

سینه سوزه مې کښې ستا نقشونه لټوم
ګنې مېن خدای څکه په تا یمه زهٔ

د خپل پردي خندا به څهٔ کړمه زهٔ
خپله خپل ځان پورې خندا یمه زهٔ

پـه محفل کښې بلېدې ته که په قبر ژړېدې ته
نن څو خدایګو که اے شمعې د مدام په دنګې وې ته

زه به خدائے ته زارې اوکړم مابه خدائے د ګلاب ګل کړې
که اوربل کښې مې اېږدې ته که ګټو کښې مې ټومبې ته

نوره هم فتنه شوه نوره هم غرور غرور شوه
ائینې خدائے دې ړنده کړه ورته ولې مُسېدې ته

ستا راتلهٔ یو زلزله وه، ستا راتلهٔ څو یو قیامت وُو
هغه وخت به لاڅهٔ حال وي چې محفل نه څهٔ وځې ته

زه به تول شم سترګې سترګې، سترګې سترګې به تول شمه
څو که ستا وعده ریښتیا وي په ربښتیا ګلې راځې ته

ستا د سرو سترګو کاسو کښې د ځوانۍ نشې کېږي
هسې نه چې چرته توے شي څه له یې بل څوا اړوې ته

دا د مینې یو اوصول دے، دا د مینې یو قانون دے
چې په څوله به هیڅ نهٔ وائې چې په څوله به لاس اېږدې ته

چې په شپه د انتظار کښې ددې ستورو سترګې سرې شي
او په زړهٔ مې څهٔ چل اوشي نو زهٔ پوځے شم چې راځې ته

اے مغرومه بدنصیبه بدقسمت یې بدقسمته
داسې وخت کښې وارخطا شوے چې منزل ته شوے نژدې ته

د زړهٔ تسکین په میخانو کښې لټوم
د سرو شرابو پیمانو کښې لټوم

یوه رنګینه تېره شوې لمحه
رباب ستا په ترانو کښې لټوم

چې راته ئې ستا په سر څغلې کړې وه
هغه یو ستورے بېګانو کښې لټوم

زهٔ خو حېران یم چې دې زړهٔ له به نن
کومه بانه په بهانو کښې لټوم

نن خو به ئې زړهٔ درته یادوم ځکه
نوې وعده دې په وعدو کښې لټوم

څکه ساقي خو د مستۍ نه نهٔ څکم
ورکه ځواني دې پیمانو کښې لټوم

چې نه خو مئے او نهٔ رباب وي کُلې
بیا دې د زړهٔ په پرېشانو کښې لټوم

دُنیا دَ اُمیدونو مې څخه وړانه غونډې ښکاري
اشنا چې په لوظونو نن پښېمانه غونډې ښکاري

ډېرې حېرانۍ دَ هغې په مخ لیدلې دي
خدا ئیګو ائینه ځکه حېرانه غونډې ښکاري

نشته دے خوشبوئي جوړې سېرلیه ستا په کلو کښې
ځکه خو بورا هم سرګردانه غونډې ښکاري

دا دے اے زړګیه سپوږمۍ نیم آسمان ته راغله
ولاړه ده دې ته څخه ستومانه غونډې ښکاري

توبه به کړم ناصحه خو چې دور دَ مستۍ تېر شي
ځوانۍ کښې خو توبه راته څخه ګرانه غونډې ښکاري

ښځه دے انکار دَ اقرارونو ځنې
تشو وعدو تشو لوظونو ځنې

ستا دَ دې قېنچې اؤ سکېنونو ځنې
زار دې شم زار د قدمونو ځنې

راځه چې دواړه بس په خلا شوه ګلې
ښځه دے وصال دَ فرقتونو ځنې

ګلونو هم چل دَ خندا زده کړلو
زما دَ زړهٔ دَ پرهرونو ځنې

مغموم خو صبر بې نیازه کړلو
دَ منډو تړو تدبیرونو ځنې

دَ نیکۍ بدۍ حساب به شي عقبیٰ کښې
محتسبه بس دے لاړ شه په حیا کښې

کله کله چې په کړس کړس په خندا شي
نو نغمې غوټې خورې شي په فضا کښې

دَ سینې دَ سرو لمبو نه چې جدا شول
اسویلي مې په خندا شو په هوا کښې

احساسونه مې زړګي کښې په لړزان کړي
دا اثر مې دے لیدلے ستا خندا کښې

چې دَ پېغلو دَ بشاشت ذکر شروع شي
دا پېدا شي یو جنون غونډې په ما کښې

چې دَ زړهٔ خبره شونډو ته را نشي
کله کله داسې کېږي په حیا کښې

نور څهٔ نهٔ دي خو دا زړهٔ به مې لړزېدهٔ شي
دا شه کینه لږ ده ما سره په خوا کښې

دا څو غلط دي چې خندلې نشم
غم د بیلتون ګني ز غملې نشم

د بدنامۍ ویره دې ما سره ده
ګني څهٔ زهٔ در ته کتلې نشم

زهٔ چې د سوال سره عادت نهٔ یمه
ځکه څو تا نه څهٔ غوښتلې نشم

زهٔ د وصال ولې دُعا اوکړمه
خپله خپل غم څو زیاتولې نشم

د شوګیو به ګوا هي کښې ګلې
د آسمان ستوري را بللې نشم

کهٔ غم دې غر وي هم خوشحاله یم څو
سپکه وېنا دې زهٔ اورېدلې نشم

څهٔ له زما د مرګ سوالونه کوي
بیا به په چا باندې نازونه کوي

ستا څو رورېل چرته پرېشانه نشي
ځکه څو ښتنګ ترې هم بادونه کوي

څو مره نشه د عشق شراب کښې چې ده
دومره اثر کله جامونه کوي

چرته یو سوال به ئې منلې وي نو
څو مره په ما ډېر احسانونه کوي

ستا جدایي کښې څهٔ خبر ئې ګلې
څهٔ څهٔ کاڼي دي دا یادونه کوي

ځه په ژړا ځه په زارو تېره شوه
شپه د هجران ځه په خوارو تېره شوه

په سترګو سترګو کښې مُسکې غوندې شوه
راسره ځُخته په نخرو تېره شوه

دا شوخه ځته د مسکن منه
چې په ول ول کښې د کمځو تېره شوه

ستا د جنّت په طمعه شيخه
ځوانه ځواني په مُصلو تېره شوه

څوک د مغموم د حاله څه خبر شو
چې ئې ځواني په اسويلو تېره شوه

په ښائسته مخ د شين خالې مې قسم
په زړهٔ شين داغ لکه د خال دے زما

د بېلتانهٔ په هر ساعت مې قسم
هره ګهړۍ لکه يو کال دے زما

ستا په ستم په ناکردو مې قسم
د لېونو نه بدتر حال دے زما

چې سپرلي کښې تول ماحول سرور سرور شي
ماتول بيا د توبې خلقه ضرور شي

دا ګناه څوک هسې نهٔ کوي واعظه
څو حالاتو نه بې شانه ډېر مجبوّر شي

دَ زړهٔ دَ غم ؟ رانه تپوس مهٔ کوئ
دَ سترګو نم ؟ رانه تپوس مهٔ کوئ

دَ تور اوربل په تورو شپو مې قسم
دَ زلفو خم ؟ رانه تپوس مهٔ کوئ

غشي نظر دَ زړهٔ په سر ویشتلے
دَ کوږ اوسم ؟ رانه تپوس مهٔ کوئ

څوک ورته سُور څوک ورته شین وائي
دې پسرلي ته څوک رنګین وائي

سپینه خبره اشنا دغه ده چې
داسې څوک نشته دے چې سپین وائي

دا چمن او دا ګُلونه چې شنهٔ سرهٔ دي
په سپرلي دَ ادیرې باندې مې څهٔ دي

هیڅ به نهٔ وایم دَ مړو مړي مړهٔ دي
خو افسوس په دې ژوندو چې ژوندي نهٔ دي

شپې دَ بېلتانهٔ دومره اوږدې دي راځه
ستا دَ اوږدو زلفو کشالې دي راځه

بیا دَ پسرلي څڅهٔ اوازې غوندې شوی
بیا په ماتېدو زما توبې دي راځه

راشه چې ښائست دې درته زهٔ اوستایم
خدایګو آئینې ټولې ړندې دي راځه

نن کهٔ زما سر رو ستا قدم دے اشنا
داهم حادثې دَ زمانې دي راځه

ارمانونه مې چې خاورې شي ایرې شي
نو ګردونه ترې نه جوړ ستا دکوڅې شي

چې ستا خوږ اوربل مې کله کله یاد شي
پرېشانې په ټول ماحول باندې خورې شي

تصوّر دلوېڅې چې راله وراشي
په فضاکښې دسپرلي شان علامې شي

زهٔ به ستاګرېوان ته لاس کړم تهٔ زما ته
داپېړا چې مېکدو کښې هنګامې شي

لاڅو ډېره لاره پاتې ده منزل ته
خدایے دې مل زما دَ ماتې حوصلې شي

سپوږمۍ ته

(د خیال په دنیا کښې د سپوږمۍ سره څو خبرې)

په شین آسمان کښې خندیدونکې سپوږمۍ
په تورو شپو کښې ځلیدونکې سپوږمۍ
ستا په نیمګړي پېغلتوب مې قسم
ستا په دې داسې لېونتوب مې قسم

چې د بېلتون په تورو شپو کښې چرې
د تنهایۍ سختو لمحو کښې چرې
زما د زړه ته مشغولا غونډې وې
ځکه چې ته مې د لیلی غونډې وې

ته به آسمان کښې په خندا شوې کله
پټه ورځ کښې به په غلا شوې کله
بیا به ښکاره شوې مسېدونکې غونډې
د دې دنیا نه شرمېدونکې غونډې

قسم مې ستا تورو داغونو باندې
د خپل زړګي په پرهرونو باندې

هغه نخرې به دې زه هېرې نه کړم
هغه څو شپې به چرې هېرې نه کړم
ستا په کتو کتو مې شپې اړولې
ما د بېلتون سختې لمحې اړولې

اوس دې هم خدایګو چې احسان منمه
لوګۍ یې د غرنه په خپل ځان منمه

خو اے زما د تورو شپو ملګرې
د جدایۍ او شوګیرو ملګرې
نن ته اوده شه چې تیرې تیرې شي
دا تیرې په ټول جهان خورې شي
نن چې دا شپه څومره اوږده شي نښه ده
او دا تیاره چې یو په دوه شي ښه ده

ځکه چې نن زما لیلی راځي
د دې دنیا نه به په غلا راځي

"غم"

لږ څو مې پرېږده غمه   چې لږ ساه واخلم
چې لږ ساه واخلم   نو بیا به تا واخلم

ورکوټے زړهٔ دے زما   دا اُمیدونه پکښې
یو تیسکے زړهٔ دے زما   دا ارمانونه پکښې

دَ چا لیدو ته گورے   زړهٔ نا قلاره یمه
نه چې نا اُمیده گورے   زړهٔ دَ بیهاره یمه

دومره مې پرېږده چې څونډ   زړهٔ دَ خندا واخلم
څونډ دَ اشنا دَ مینې   څهٔ دَ وفا واخلم

لږ څو مې پرېږده غمه
چې لږ ساه واخلم

چې لږ ساه واخلم
نو بیا به تا واخلم

دَ دې دُنیا نه لرې   بېسَله دُنیا وے زما
داسې دنیا کښې وے زړهٔ   چې بس زما وے زما

پکښې خندلے شوے ما   پکښې ژړلے شوے ما
چې څوک کتل مې غوښتے   پکښې کتلے شوے ما

نهٔ وے جفا نه خبر   نهٔ دَ وفا نه خبر
نهٔ دَ جزا نه خبر   نهٔ دَ سزا نه خبر

دومره مې پرېږده چې غم   زړهٔ دَ اشنا واخلم
کهٔ ډېر دروند وي نو هم   پېټے به ستا واخلم

لږ څو مې پرېږده غمه
چې لږ ساه واخلم

چې لږ ساه واخلم
نو بیا به تا واخلم

تعبیر

لکه سپرلي چې په چمن راشي
په سمه غر او په کُهن راشي

په تورو شپو کښې لکه ستوري غوندې
ناامیدۍ کښې لکه زیري غوندې

د خوږ زړګي یو ترانه غونته کښې
د سرو شرابو پیمانه غونته کښې

زما د خوب ښکلې تعبیر شولې ته
د نامراده زړه تقدیر شولې ته

د زړه د دنیا ته په دې شان راغلې
ورانې دُنیا ته په ښه شان راغلې

د خپل دوست سید صابر شاه صابر د واده په خوشحالۍ کښې د مینې او عقیدت تحفه ګلونه

وَادهٔ

د رنګینه شعرونو په ژبه

"راځئ چې ټول په جمع یو آلا او کړو آلا"
راځئ چې د صابر د سهرې ګلونو ته قربان شو
راځئ چې د سهرې د دې ګلونو ته قربان شو
راځئ د خوشحالۍ د دې وختونو ته قربان شو
راځئ چې هم د ساز او هم سرونو ته قربان شو
"راځئ چې ټول په جمع یو آلا او کړو آلا"
ن ستوري په اسمان کښې دي نشه نشه غوندې
نه صرف نشه نهٔ دي، دي ګڼه ګڼه غوندې
کله د غصې نه شي لمبه لمبه غوندې
کله داسې تت شي، شي ډیوه ډیوه ډیوه غوندې
سهرې ته کتې نشې دي د زړهٔ په رنځ اخته غوندې
دوئ هم را ته ښکاري دي بد نیته د بنده غوندې
راځئ چې ټول په جمع یو آلا او کړو آلا

لنډه شان موده د انتظار څومره اوږده شوله
شکر دے اے خدایه چې مونږ طمعه پوره شوله
سهره نن د واده څېرې صابر په سر ځوړه شوله
اوګورئ دنیا د دې سهرې په تماشه شوله

راځئ چې ټول په جمع یو آلا وکړو آلا

صابره ته د مور د ارمانونو نه خبر نه وې
ته جوړې د پلار د حسرتونو نه خبر نه وې
ته د خپلو خوېندو د غمونو نه خبر نه وې
ته دې جوړ د رونړو د فکرونو نه خبر نه وې
څومره په ارمان ستا د واده د سر سهرو ته وو
څومره تلوسه کښې دې ساعت او دې لمحو ته وو

راځئ چې ټول په جمع یو آلا وکړو آلا

مغموم به مدعا خپله ښکاره په څو نقطو کښې کړي
یا به ئې بیان د شاعرۍ په څو جملو کښې کړي
خپل دواړه لاسونه به اوچت په نیمو شپو کښې کړي
سوال به د خپل رب نه په خاموشه خاموشو کښې کړي

دا ځوانان د لارې دوه ملګري تل ودان لري
ته ئې په خپل فضل هر آفت نه په امان لري

— آمین —

یک ورو پیشکش : عبدالله جان مغموم
د واده نېټه ۲۴ ستمبر ۱۹۹۵ء

ډمې ته

(په میدان کښې د ډمې د ګډا یوه نقشه یوه ننداره)

ګډه شي ګډېږي په ګډا کښې په خندا شي ته
سر ترېښنو ادا شي ته
او څورې څوړ لکونه هر څو رلک کښې په هوا شي ته
سر ترېښنو ادا شي ته

تېږه شي کږه شي په کږه کښې بیا راسمه شي
ډکه له ستمه شي
ډېرې نخرې اوکړې په نخرو نخرو بې دمه شي
ډکه له ستمه شي

نرۍ نرۍ ګډېږي ناګهانه په ترپکو شي
سر په کالکوچکو شي
وار د رنه خطا شي وار خطا نه په چور لکو شي
سر په کالکوچکو شي

تهٔ چې کچه غوړکه نرۍ ملا دې لکه لخته ده
لخته ترې هم سخته ده
هره یوه ادا دې د قیامت نخښو نه سخته ده
سختو نه هم سخته ده

سیل نه جُدا شوې مرغۍ هر چا ته نزدې شې تهٔ
په طمعه د پېسې شې تهٔ
او وهې سانګو نه په څهٔ چل هلے دلې شې ته
په طمعه د پېسې شې تهٔ

څاته وهې سترګې چا ته یل رنګ اشارې کوې
دا کومې نخرې کوې
تال کښې د سازونو د چالونو نظارې کوې
دا کومې نخرې کوې

شرنګ د هر پښې کښې دې بې شمېره فسادونه دي
ډېر ډېر طوفانونه دي
سرې سترګې دې نهٔ دي د شرابو ډک جامونه دي
ډېر ډېر طوفانونه دي

د خټکو مزکې ته خطاب

اے د اغزو او د ګلونو مزکې
د کانو تیږو تورو غرونو مزکې
اے د همت د خزانو مېرمنې
د شجاعت د سپلیونو مزکې
د پښتو مورې د پښتونه ډکې
د خوشحال خان غونډې زمرونه ډکې
ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم
اے د چمن اے د کُهن خاورې
اے د خټکو د وطن خاورې
اے د غیرت د افسانو مېرمنې
د خوشحال خان د مضبوط تن خاورې
د غیرت مورې د غیرت نه ډکې
اے د خټکو د عظمت نه ډکې
ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم

ځکه چې تا د خپل عزت د پاره
د آزادۍ د حفاظت د پاره
د خوشحال خان غونډې زامن راوړي
داسې غازيان داسې تورزن راوړي
چې اباسين کښې ئې سيلاب راوستو
شاړو ميړو کښې ئې انقلاب راوستو
ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم
د غيرت مورې د غيرت نه ډکې
اے د خټکو د عظمت نه ډکې
د خوشحال خان رَس په تا پښې ايښې دي
تا د شفقت نه په سينې ايښې دي
خټک زلمي تا باندې سر ايښے دے
تا په خپل زړه په خپل ځيګر ايښے دے
ستا احترام کول پکار دي منم
تا ته سلام کول پکار دي منم
د پښتو مورې د پښتو نه ډکې
د خوشحال خان غونډې زمرو نه ډکې
ستا په خوارۍ باندې خوارېږي مه زه
که تپوس کوم کنهګارېږي مه زه
دومره تپوس درنه کوم چې ولې
دا روندې تېرې او بربنډه شوې ته
دومره تپوس درنه کوم خټکې
پس د خوشحال نه پسته شنډه شوې ته